د افغانستان بانک



# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې اقتصادي او احصائیوي بولټن

(د ۲۰۱۷ کال د جولای له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر تر ۲۱ نېټې پورې)

د افغانستان بانک



# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې اقتصادي او احصائیوي بولټن

(د ۲۰۱۷ کال د جولای له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر تر ۲۱ نېټې پورې)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټیلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي. دا درې میاشتنی بولټن د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې (د ۲۰۱۷ کال د جولای له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر تر ۲۱ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

## د محتوياتو لړليک


**عمومي کتنه** ۱

**۱. نړيوال اقتصادي وضعيت** ۵

۱.۱ پرمختللي اقتصادونه ۵

۱.۱.۱ د امريکې د متحدو ايالتونو اقتصاد ۵

۲.۱.۱ د بريتانيې اقتصاد ۶

۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ۸

۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد ۹

۲.۱ راغورځېدلي اقتصادونه ۱۰

۱.۲.۱ د چين اقتصاد ۱۰

۲.۲.۱ د هند اقتصاد ۱۱

۳.۲.۱ د ترکيې اقتصاد ۱۳

**۲. د بانکې او پولي بازار بدلونونه** ۱۷

۱.۲ پولي پروګرام ۱۷

۲.۲ د نقدينګۍ حجم ۱۸

۳.۲ خالصه نړيوالې زيرمې ۲۱

۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ۲۱

۱.۴.۲ د اسعارو د مبادلې نرخ ۲۱

۵.۲ د آزاد بازار کړنې او د سياليت شرايط ۲۲

۱.۵.۲ د اسعارو ليلام ۲۲

۲.۵.۲ د بانګه ايزو پاڼو ليلام ۲۳

۳.۵.۲ الزامي او اضافي زيرمې ۲۴

**۳. د انفلاسيون بهير او ليدلوری** ۲۹

۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بيې ۳۰

۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بيې د عمومي شاخص بدلونونه ۳۲

۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بيو شاخص بدلونونه ۳۲

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ۳۹

۱.۴ د ادايانو بيلانس ۳۹

۱.۱.۴ د جاري حساب بيلانس ۳۹

۲.۱.۴ بانګه ايز حساب ۴۰

۳.۱.۴ مالي حساب ۴۰

۴.۱.۴ د توکو سوداګري ۴۱

۲.۴ د سوداګرۍ لوری ۴۲

۱.۲.۴ د صادراتو لوری ۴۲

۲.۲.۴ د وارداتو لوری ۴۳

۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۴۴
۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب ۴۴
۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب ۴۵
۴.۴ بهرنۍ پوراينې ۴۶
۵.۴ خالصه نړيوالې زيرمې ۴۷
۵. د مالي سکتور بدلونونه ۵۵
۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ ۵۵
۲.۵ د بودجې کسر ۵۵
۳.۵ د عوايدو راټولول ۵۵
۱.۳.۵ مالياتي عوايد ۵۶
۲.۳.۵ غير مالياتي عوايد ۵۷
۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۷
۵.۵ لګښتونه ۵۸
۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی ۶۱
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۶۲
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۶۳
۲.۱.۶ د پور د زيان زيرمې ۶۳
۳.۱.۶ د کريډټ وېشنه ۶۳
۲.۶ د پورونو ډله بندي ۶۶
۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه ۶۶
۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه ۶۶
۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه ۶۷
۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه ۶۷
۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۷
۶.۲.۶ پانګه اچونه ۶۸
۷.۲.۶ په خزانه کې پيسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۸
۳.۶ پوراينې ۶۸
۱.۳.۶ امانتونه ۶۹
۲.۳.۶ پور اخيستنې ۷۰
۴.۶ نقدينه ګۍ (سياليت) ۷۰
۱.۴.۶ د سياليت نسبت (پراخه کچه) ۷۰
۵.۶ پانګه ۷۱
۶.۶ ګټورتيا (نافعيت) ۷۱
۷.۶ د اسعارو خطر ۷۳
۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر ۷۳

## د ګرافونو لست


۱.۱ ګراف: د نړۍ د اقتصادي ودې نرخ ..... ۵
۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۶
۳.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د بېکارۍ نرخ، ۲۰۱۶ جنوري – ۲۰۱۷ اکتوبر ..... ۶
۴.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د ټولو ښاري مصرفوونکو(ټولو توکو) د مصرفي بیې شاخص ..... ۶
۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۰۷ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۷
۶.۱ ګراف: د بریتانیې د بېکارۍ نرخ، ۲۰۰۷ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۷
۷.۱ ګراف: د بریتانیې د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص نرخ، ۲۰۰۷ لومړۍ ربعه - ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۷
۸.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۲ لومړۍ ربعه - ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۸
۹.۱ ګراف: د جرمني د مصرفي توکو د بیې شاخص، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه - ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۸
۱۰.۱ ګراف: د جرمني د بېکارۍ نرخ، ۲۰۱۴ لومړۍ ربعه - ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۹
۱۱.۱ ګراف: د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۹
۱۲.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۱۰
۱۳.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د کلني ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۱۲
۱۴.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۱۳
۱.۲ ګراف: د پولي زیرمې هدف او حقیقي کچه، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه – ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۱۸
۲.۲ ګراف: په ګردښت کې د پیسو هدف او حقیقي کچه، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه – ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۱۸
۳.۲ ګراف: خالصه بهرنۍ شتمنۍ، خالصه کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې ..... ۱۹
۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه ..... ۱۹
۵.۲ ګراف: د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف، په میلیون امریکایي ډالر، ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۱
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۱
۷.۲ ګراف: د انګلیسي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۱
۸.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۲
۹.۲ ګراف: د ایراني تومانو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۲
۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ..... ۲۲
۱۱.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۲۳
۱۲.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ (په میلیونه افغانۍ) ..... ۲۳
۱۳.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ..... ۲۴
۱۴.۲ ګراف: د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ..... ۲۴
۱۵.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ..... ۲۴
۱۶.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ..... ۲۴
۱.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون (کال په کال)، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۳۱
۲.۳ ګراف: د ملي عمومي انفلاسیون درې میاشتنی اوسط، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۳۲
۳.۳ ګراف: د کابل د انفلاسیون اوسط نرخ، ۲۰۰۸ دریمه ربعه– ۲۰۱۷ دریمه ربعه ..... ۳۴
۴.۳ ګراف: د اوسط موندلو میتود ..... ۳۴
۵.۳ ګراف: دکابل عمومي انفلاسیون، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه – ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ..... ۳۴

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو) ۴۰
۲.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو داخلي جریانونه (په میلیون امریکایي ډالر) ۴۰
۳.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالر) ۴۱
۴.۴ ګراف: د شتمنیو زیرمې، د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعه - د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۱
۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۲
۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ۴۲
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۴
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ۴۴
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ۴۵
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۵
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ۴۶
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۶
۱۳.۴ ګراف: د بهرنیو پورونو پرتله، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه - د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۷
۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه - د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۴۷
۱.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال عملیاتي بودجه ۵۵
۲.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال پراختیایي بودجه ۵۵
۳.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال ټولیزه بودجه ۵۵
۴.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۶
۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه - د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۶
۶.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله ۵۶
۷.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۶
۸.۵ ګراف: د نورو عوایدو ترکیب، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۷
۹.۵ ګراف: د ملي بودجې تمویلي سرچینې، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۷
۱۰.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله (په میلیون افغانۍ) ۵۸
۱۱.۵ ګراف: د حکومت د ټولیزه لګښتونو ترکیب، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ۵۸
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ۶۲
۲.۶ ګراف: د ناخالصه پورونو په پورتفولیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ۶۳
۳.۶ ګراف: د پور د پورتفولیو کیفیت ۶۶
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د بین البانکي طلباتو ونډه ۶۸
۵.۶ ګراف: پوراینې ۸.۷۲ میلیارده یا ۳.۴۳ سلنه زیاتې شوي دي ۶۸
۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ۶۹
۷.۶ ګراف: په افغانۍ ایښودل شوي امانتونه ۶۹
۸.۶ ګراف: امانتونه ۴.۲۳ سلنه یا ۱۰.۰۳ میلیارده افغانۍ کم شوي دي ۶۹

۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي ..... ۷۰
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت) ..... ۷۲
۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام له پانګې او شتمنی څخه ترلاسه شوې ګټې ..... ۷۲
۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ..... ۷۲

**د جدولونو لست**

۱.۲ جدول: د امانت اېښودونکو شرکتونو د ۱۳۹۶ مالي کال تحليلي بيلانس شيټ او پولي حجم ۲۰
۱.۳ جدول: د ملي عمومي انفلاسيون د اجزاوو ويشنه، د ۱۳۹۶ مالي کال دريمه ربعه ۳۱
۲.۳ جدول: د کابل د عمومي انفلاسيون د اجزاوو ويشنه، د ۱۳۹۶ مالی کال دريمه ربعه ۳۵
۱.۴ جدول: د افغانستان د ادباينو بيلانس (په میلیون امريکايي ډالر) ۴۸
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امريکايي ډالر) ۴۹
۳.۴ جدول: د بهرنی سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۶ مالي کال دريمه ربعه (په میلیون امريکايي ډالر) ۴۹
۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګرۍ لوری، د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه (په میلیون امريکايي ډالر) ۵۰
۵.۴ جدول: بهرنی پورواينې، ۱۳۹۶ مالي کال دريمه ربعه ۵۰
۶.۴ جدول: په ۱۳۹۶ مالی کال کې خالصه نړيوالې زيرمې (په میلیون امريکايي ډالر) ۵۱
۱.۶ جدول: د شتمنيو او پوراينو ترکيب ۶۲
۲.۶ جدول: د کريډټ سکتوري ويش ۶۵
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټينګښت مهم شاخصونه ۷۰
۴.۶ جدول: د ګټې/ زيان جدول ۷۰



## د لوی رئیس پیغام

″د ټولنې د ډېرو زیانمن کیدونکو وګړو ملاتړ، د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغېزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کېږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي.″

**عمومي کتنه**

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د نړۍ اقتصادي وضعیت د صنعتي کړنو د ښه کېدو او د نړیوالې سوداګرۍ د زیاتېدو له امله پیاوړی شوی دی. د نړۍ په کچه د کورني ناخالصه تولیداتو وده د ۲۰۱۶ کال له ۲.۴ سلنې څخه په ۲۰۱۷ کال کې ۳ سلنې ته لوړه شوې ده چې د جون میاشتې د ۲.۷ سلنه وړاندې وینې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي او په پایله کې د نړۍ شاوخوا د نیمایي هېوادونو اقتصادي وده زیاته شوې ده. په نړیواله پانګونه کې زیاتوالی چې د نړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې درې ربعې رانغاړي، د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو په اوږدو کې د مساعده مالي لګښتونو، زیاتې ګټې او په پرمختللو او راغوړېدلو او د پرمختګ په حال اقتصادونو کې د سوداګرۍ د ښه بهیر له امله راغلی دی.

په افغانستان کې اقتصادي وضعیت په نړیوالو بازارونو کې د سوداګریزو توکو د بیو د زیاتیدو او په هېواد کې د کرنې، صنعت او خدمتونو په سکتورونو کې د بدلونونو له امله اغیزمن کیږي.

په افغانستان کې د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د شته شمېرو پر بنسټ، د کال په کال سنجش له مخې عمومي انفلاسیون د تېرې دورې د ۷.۲ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۴.۵ سلنې ته راټیټ شوی دی.

داسې ښکاري چې د افغانستان د انفلا سیون لنډمهاله لیدلوری به ثابته پاتې شي. د افغانستان بانک د ۲۰۱۷ کال د څلورمې ربعې لپاره د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د ۳ او ۴ ترمنځ اټکل کړی دی.

بانکي نظام د تېرې ربعې د ۹۸ میلیون افغانۍ په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۷۴۳ میلیون افغانۍ خالصه ګټه ترلاسه کړې چې اصلي لامل یې د پور تخصیص دی. بانکي نظام د ۶۳ میلیون افغانۍ بیا راټول شوي تخصیصي پورونه ثبت کړي (چې د پورونو په بیرته ورکړې پورې اړه لري). دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې ربعه له ګټې سره پای ته رسولې ده.

د ۲۰۱۷ مالي کال له پیل څخه د سپتمبر د میاشتې تر ۲۲ نیټې پورې د افغانستان بانک د نړیواله خالصه زیرمو په برخه کې ۵.۶۲ سلنه (۳۸۵ میلیون امریکایي ډالر) زیاتوالی تجربه کړی دی.

د افغانستان بانک په خالصه نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق (IMF) سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پاونډ او داسې نور شامل دي. د ۲۰۱۷ مالي کال له پیل څخه د سپتمبر د میاشتې تر ۲۲ نیټې پورې د افغانستان بانک په خالصه نړیواله زیرمو کې ۵.۶۲ سلنه (۳۸۵ میلیون امریکایي ډالر) زیاتوالی راغلی دی.

# ۱

# وضعیت اقتصادي نړیوال

# ۱
# نړیوال اقتصادي وضعیت

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ، د نړۍ اقتصاد له دوو کلونو کمزوره کړنو وروسته د صنعتي کړنو د بېرته ښه کېدو او د نړیوالې سوداګرۍ د زیاتیدو له امله د پیاوړي کېدو په حال کې دی. اټکل کېږي چې په پرمختللو، غوړېدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو کې به وده زیاته شي. پرڅان بسیاینه د ښه کېدو په حال کې ده، په داسې حال کې چې نړیوال مالي وضعیت لاهم برابره وده کړې ده.

اټکل کېږي چې په ۲۰۱۷ کال کې د پرمختللو اقتصادونو اقتصادي کړنې پیاوړې شي چې لوی لامل یې د متحدو ایالتونو اقتصادي پیاوړتیا ښودل شوی دی. تمه کېږي چې په جاپان او یورو سیمه کې د کورنیو صادراتو او تقاضا د زیاتوالي له امله اقتصادي وده لوړه شي. په پرمختللو اقتصادونو کې پانګه اچونه راکمه شوې، په داسې حال کې چې د خصوصي مصرف وده په منځنۍ کچه کې پاتې شوې ده. تمه کېږي چې په ۲۰۱۷ کال کې د پرمختللو اقتصادونو وده د تېر کال له ۱.۷ سلنې څخه ۱.۹ سلنې ته زیاته شي. په راغوړېدلو بازارونو او د پرمختګ په حال اقتصادونو کې د ودې پر وړاندې د خنډ لوی لامل د سوداګریزو توکو د صادروونکو دوامداره ځان ویستنه ګڼل کېږي، په داسې حال کې چې د سوداګریزو توکو د واردوونکو کړنې پیاوړې پاتې شوي دي. له همدې امله، د نړیوال بانک لخوا په ۲۰۱۷ کال کې د راغوړېدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو د ودې نرخ ۴.۱ سلنه اټکل شوی چې د ۲۰۱۶ کال د ۳.۵ سلنې ودې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.

۱.۱ ګراف: د نړۍ د اقتصادي ودې نرخ




سرچینه: نړیوال بانک

## ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد

د امریکې د اقتصادي ادارې د اټکلونو له مخې، د متحدو ایالتونو حقیقي کورني ناخالصه تولیدات ۳.۰ سلنه زیات شوي دي. د دې هېواد د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د ودې عمده لاملونه د خصوصي موجودۍ پانګونه، شخصي لګښت، نا استوګنیزه ثابته پانګونه، صادرات او د فدرالي حکومت لګښتونه ښودل شوي دي. د ۲۰۱۶ کال په درېمه ربعه کې د امریکې حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو ۲.۸ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د ودې ستر لاملونه شخصي لګښت، صادرات، د خصوصي موجودۍ پانګونه او د فدرالي حکومت لګښتونه ښودل شوي، حال دا چې استوګنیزې ثابتې پانګونې او د دولتي او سیمه ایزه حکومت لګښتونو د کورني ناخالصه تولیداتو په زیاتوالي کې منفي رول لوبولی دی.

**۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه– ۲۰۱۷ دریمه ربعه**




سرچینه: د اقتصادي شننې اداره، د امریکې د سوداګرۍ وزارت

د متحدو ایالتونو د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې ۴.۲ سلنې ته راکم شوی دی. د ۲۰۱۶ کال له دریمې ربعې څخه تر د ۲۰۱۷ کال تر دریمې ربعې پورې ګټورتیا ۱.۵ سلنه زیاته شوې ده.

**۳.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د بیکارۍ نرخ، ۲۰۱۶ جنوري – ۲۰۱۷ اکتوبر**




سرچینه: د کار د احصائیې اداره، د امریکې د کار وزارت

د امریکې د ټولو ښاري مصرفوونکو (ټولو توکو) د مصرفي بیې شاخص د ۲۰۱۶ کال د دریمې ربعې د ۲.۲ سلنې په پرتله په ۲۰۱۷ کال کې ۱.۷ سلنه زیاتوالی موندلی چې د انفلاسیون په نرخ کې ټیټوالی ښکاره کوي.

**۴.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د ټولو ښاري مصرفوونکو (ټولو توکو) د مصرفي بیې شاخص**




سرچینه: د کار د احصائیې اداره، د امریکې د کار وزارت

د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوالې سوداګرۍ (توکو او خدمتونو) کسر د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې ۴۳.۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د اګست میاشتې په پرتله ۰.۷ میلیارده امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي. د یادولو وړ ده چې د نړیوالې سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې ۹.۳ سلنه (۳۴.۵ میلیارده) امریکایي ډالرو ته رسیږي، چې د ۲۰۱۶ کال د دریمې ربعې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د امریکې د صادراتو کچه په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې ۹۳.۰ میلیارده امریکایي ډالره یا ۵.۶ سلنه زیاته شوې ده. د دې هیواد د وارداتو کچه هم ۱۲۷.۵ میلیارده امریکایي ډالره یا ۶.۳ سلنه لوړه شوې ده.

**۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد**

تمه کیده چې د بریتانیې کورني ناخالصه تولیدات د۲۰۱۷ کال د دویمې او دریمې ربعې ترمنځ ۰.۴ سلنه زیات شي. حال دا چې د ۲۰۱۷ کال د دویمې او دریمې ربعې ترمنځ د کورني نهایي لګښت او د مخارجو د ودې نرخ ۰.۶ سلنه ثابته پاتې شوی ده. په ورته وخت کې، د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې تر ټولو زیاته ونډه د کرنې، تولیداتو، رغاونې او د خدمتونو سکتورونو درلودلې ده چې په ترتیب سره د کرنې سکتور

۰.۲ سلنه، تولیداتو ۱.۱ سلنه، رغاونې ۰.۹ سلنه او خدمتونو ۰.۴ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

**۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۰۷ لومړی ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه**




سرچینه: د ملي احصائیې اداره، بریتانیا

بریتانیې د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې ۴.۳ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۴.۸ سلنې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي. د بریتانیې د دنده لرونکو وګړو شمېر ۳۲.۰۶ میلیونه ته رسېږي چې د ۲۰۱۷ کال د اپریل له میاشتې څخه تر جون میاشتې پورې ۱۴،۰۰۰ تنه کموالی ښکاره کوي، خو د تېر کال په پرتله بیا ۲۷۹،۰۰۰ تنه زیاتوالی په ګوته کوي. دا په داسې حال کې ده چې د تېر کال د دریمې ربعې په پرتله د ۲۰۱۷ کال په همدې موده کې د بېکارو وګړو شمېر ۱۸۲،۰۰۰ تنو ته راټیټ شوی دی. د ویلو وړ ده چې د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې د بېکارۍ نرخ ۷۵ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ مالي کال د د ورته ربعې د ۷۴.۴ سلنې په پرتله لږ څه لوړوالی ښکاره کوي.

**۶.۱ ګراف: د بریتانیې د بېکارۍ نرخ، ۲۰۰۷ کال لومړی ربعه – ۲۰۱۷ کال دریمه ربعه**




سرچینه: د ملي احصائیې اداره، بریتانیا

د بریتانیې د انفلاسیون کلني نرخ د ارزونې لاندې موده کې ۲.۸ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې د ۱.۰ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي. د انفلاسیوني نرخ د زیاتېدو تر شا عمده لامل د غیر الکولي مشروباتو او خوراکي توکو انفلاسیون ښودل شوی چې په دوامداره توګه ۴.۱ سلنې ته زیات شوی او د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر میاشتې راهیسې خپل تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلی دی. دا بدلونونه تر یو بریده د نفتو او د فرنیچرو د بیو او د کور جوړونې د لګښتونو د کموالي له امله جبران شوي چې د تېر کال په پرتله د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې لوړ شوي دي.

**۷.۱ ګراف: د بریتانیې د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص نرخ، ۲۰۰۷ لومړی ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه**




سرچینه: د ملي احصائیې اداره، بریتانیا

د بریتانیې د بهرنۍ سوداګرۍ (توکو او خدمتونو) کسر د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې د ۳.۰ میلیارده پاونډه زیاتوالی په درلودلو سره په ټولیزه توګه ۹.۵ میلیارده پاونډه ته رسیږي. د دې بدلون عمده لامل د توکو لکه ماشین آلاتو، نفتو، نامشخصه توکو (د غیر پولي سرو زرو په ګډون) په وارداتو کې زیاتوالی ګڼل کیږي، خو دا زیاتوالی د الوتکو په وارداتو کې د کموالي له امله تر یو بریده پورې جبران شوی دی. له یوې خوا په تېرو دریو میاشتو کې د ۲۰۱۷ کال تر سپتمبر میاشتې پورې له اروپایي ټولنې او غیر اروپایي ټولنې هېوادونو څخه د توکو

واردات ۰.۹ میلیارده پاونډ زیات شوي، له بلې خوا د بریتانیې د سوداګرۍ تولیزه کسر د صادراتو په پرتله د وارداتو د زیاتوالي له امله لوړ شوی چې د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې نږدې دوه برابره ۱۴.۸ میلیارده پاونډ ته رسېدلی دی.

همدا ډول، له نامنظمه سوداګریزو توکو پرته د بریتانیې د سوداګرۍ تولیزه کسر د ۲۰۱۷ کال د اګست او سپتمبر میاشتو ترمنځ د ۰.۱ میلیارده پاونډ کموالي په درلودلو سره ۳.۸ میلیارده پاونډه ته رسېږي.

### ۳.۱.۱ د جرمنی اقتصاد

د جرمني کورني ناخالصه تولیدات د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې ۰.۸ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ کال د درېمې ربعې د ۰.۵ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په یاده موده کې کورنۍ تقاضا د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې مثبت رول لوبولی دی.

د ارزوني لاندې مودې په اوږدو کې بهرنۍ سوداګرۍ د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې عمده ونډه لوبولې ده، په داسې حال کې چې په تېره ربعه کې د توکو او خدمتونو صادرات ۱.۷ سلنه او واردات بیا د صادراتو په پرتله ډېر لږ (+ ۰.۹ سلنه) زیاتوالی موندلی دی. د محاسبې له مخې، د وارداتو او صادراتو بیلانس د کورني ناخالصه تولیداتو پر ودې باندې ډېره اغیزه کړې ده.

**۸.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۲ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ درېمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې فدرالي اداره (DESTATIS)، جرمني

په جرمني کې د مصرفي توکو بیې د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې ۱.۸ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ د درېمې ربعې د ۰.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د جرمني د انفلاسیون د تولیزه نرخ له پرتلې څخه څرګندیږي چې د توکو تولیزه بیې د تېر کال په پرتله د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې په منځنۍ ډول ۲.۲ سلنه زیاتې شوي دي چې عمده لامل یې د خوراکي توکو (+۳.۶ سلنه) او د انرژۍ د بیو (+۲.۷ سلنه) زیاتوالی ښودل شوی دی. د یادولو وړ ده چې د ځینو نورو توکو لکه تولیداتو (+۴.۳ سلنه)، اخبارونو او دوره ای خپرونو (+۵.۲ سلنه) او تنباکو په بیو کې کال په کال زیاتوالی راغلی دی.

**۹.۱ ګراف: د جرمني د مصرفي توکو د بیې شاخص، ۲۰۱۵ لومړۍ ربعه– ۲۰۱۷ درېمه ربعه**




| | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپتمبر | اکتوبر | نومبر | دیسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۱۵ | –۰.۳ | ۰.۱ | ۰.۳ | ۰.۵ | ۰.۷ | ۰.۳ | ۰.۲ | ۰.۲ | ۰ | ۰.۳ | ۰.۴ | ۰.۳ |
| ۲۰۱۶ | ۰.۵ | ۰ | ۰.۳ | –۰.۱ | ۰.۱ | ۰.۳ | ۰.۴ | ۰.۴ | ۰.۷ | ۰.۸ | ۰.۸ | ۱.۷ |
| ۲۰۱۷ | ۱.۹ | ۲.۲ | ۱.۶ | ۲ | ۱.۵ | ۱.۶ | ۱.۷ | ۱.۸ | ۱.۸ | ۱.۶ | | |

سرچینه: د احصائیې فدرالي اداره (DESTATIS)، جرمني

د جرمني د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې ۳.۵ سلنې ته رسیږي. د جرمني د احصائیې د فدرالي اداري د راپور پر بنسټ، د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې د جرمني د اوسېدونکو شاوخوا ۴۴.۶ میلیونه وګړي دندې درلودې، حال دا چې د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر میاشت کې د دنده لرونکو وګړو شمېر ۱.۵ سلنه (۶۵۰۰۰۰ تنه) زیات شوی ؤ. د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې نږدې ۱.۶ میلیونه وګړي بېکاره ؤ چې د تېر کال په پرتله د ۹۲،۰۰۰ تنه کموالی ښکاره کوي.

د دندو د توضیحاتو د لنډمهاله پایلو له مخې، د دنده لرونکو وګړو شمېر د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر د میاشتې په پرتله په تېره میاشت کې ۱۰۵،۰۰۰ تنو (۰.۲ سلنې) ته زیات شوی ؤ چې عمده لامل یې د مني فصل زیاتوالی ښودل شوی دی.

۱۰.۱ ګراف: د جرمني د بېکارۍ نرخ، ۲۰۱۴ لومړی ربعه –۲۰۱۷ دریمه ربعه

دریمه ربعه د جرمني د بېکارۍ نرخ




سرچینه: د فدرال احصائیوي اداره (DESTATIS)، جرمني

د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې د جرمني د توکو صادرات ۱۱۰.۳۹۴ میلیارده یورو او د توکو واردات ۸۶.۲۹۲ میلیارده یورو ته رسیږي. د لنډمهاله شمېرو او د فدرال احصائیوي اداري د راپور له مخې د ۲۰۱۷ کال په سپټمبر میاشت کې د جرمني صادرات او واردات په ترتیب سره ۴.۶ سلنه او ۵.۵ سلنه زیات شوي دي. د بهرنۍ سوداګرۍ بیلانس د ۲۰۱۷ کال په سپټمبر میاشت کې ۲۴.۱ میلیارده یورو ډېریدنه ثبت کړې، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې یې کچه ۲۳.۷ میلیارده یورو ته رسیده. د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې جرمني د اروپایي ټولنې غړو هېوادونو ته د ۶۵.۰ میلیارده یورو په ارزښت توکي صادر کړي، حال دا چې له همدې هېوادونو څخه یې د وارد شویو توکو کچه ۵۷.۶ میلیارده یورو ته رسېږي. د یادونې وړ ده چې د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې د اروپایي ټولنې هېوادونو ته صادرات ۳.۳ سلنه او واردات ۴.۷ سلنه زیات شوي ؤ. د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې د ۴۰.۸ میلیارده یورو په ارزښت سوداګریزه توکي د اروپایي ټولنې هېوادونو ته لېږل شوي، په داسې حال کې چې له دغو هېوادونو څخه د راوړل شویو توکو کچه ۳۸.۱ میلیارده یورو ته رسیږي.

### ۴.۱.۱ د جاپان اقتصاد

د جاپان کورني ناخالصه تولیدات (د موسم په اساس عیار شوی) د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې (ربعه په ربعه) ۰.۶ سلنه زیاتوالی موندلی چې عمده لامل یې د صادراتو زیاتوالی په ګوته شوی دی، حال دا چې سوداګریزه لګښت له تمې څخه زیاته چټکه وده موندلې ده. د کلني سنجش له مخې، د جاپان اقتصاد ۲.۵ سلنه وده کړې چې د ۱.۴ سلنه اټکل شوې کچې او د بازار د ۱.۵ سلنه اټکل شوې ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. له ۱۹۸۰ کال څخه تر ۲۰۱۷ کاله پورې د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې منځنۍ نرخ ۰.۵۰ سلنه رسیده، په داسې حال کې چې د ۱۹۹۰ کال په دوېمه ربعه کې تر ټولو زیاته وده (۳.۲۰ سلنه) ثبت شوې او د ۲۰۰۹ کال په لومړي ربعه کې تر ټولو ټیټه وده (۴.۹۰ سلنه) ثبت شوې ده.

۱۱.۱ ګراف: د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړی ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه




سرچینه: د کابینې دفتر، جاپان

د جاپان د بېکارۍ نرخ تېرې ربعې ته ورته د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې ۲.۸ سلنې ته رسیږي. د بېکارۍ نرخ له تیرو ۲۳ کلونو راهیسې د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې تر ټولو ټیټې کچې ته راکم شوی دی. همدا ډول، د

غوښتنلیکونو په وړاندې د دندو نسبت تېرې دورې ته ورته ۱.۵۲ سلنه ثبت شوی حال دا چې بازار تمه درلوده چې دا نسبت به ۱.۵۳ سلنه ثبت شي. د دندو نسبت د ۱۹۷۴ کال د فبرورۍ میاشتې راهیسې تر ټولو لوړې کچې کې پاتې شوی دی.

د تېرې میاشتې د پرتلې له مخې په روانه ربعه کې ۱.۸۸ میلیونه وګړي بېکاره ؤ چې د اګست میاشتې له ثبت شوي شمېرې څخه ۲،۰۰۰ تنه زیاتوالی ښکاره کوي. د جاپان د کار لرونکو وګړو شمېر په روانه ربعه کې په ټولیزه توګه ۶۵.۵۰ میلیونو ته رسېږي چې تیرې میاشې د ۲۰ زره دندو د زیاتوالي په پرتله شاوخوا ۱۵ زره دندې کموالی په ګوته کوي. همدا ډول یو کال مخکې د جاپان بېکارۍ نرخ ۳.۰ سلنه ؤ.

د جاپان د مصرفي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې ۰.۷ سلنه زیات شوی چې د تېرې میاشتې له نرخ او د بازار له وړاندې وینې سره جوړښت لري.

د ارزونې لاندې موده کې د خوراکي توکو بیې د تېر کال راهیسې په چټکه توګه یو سلنه زیاتې شوې (په اګست میاشت کې د خوراکي توکو بیو ۰.۹ سلنه لوړوالی موندلی)، همدا ډول د تازه خوراکي توکو بیې (له ۰.۸ سلنې څخه ۱.۲ سلنې)، ماهي او بحري خوراکي توکي (له ۴.۲ سلنې څخه ۵.۶ سلنې) او تازه میوو (له ۳.۴ سلنې څخه ۳.۶ سلنې) ته پورته شوي دي. په ورته وخت کې، د لبنیاتو او هګیو بیې (له منفي ۰.۶ سلنې څخه منفي ۰.۴ سلنې ته) لږ څه راکمې شوې دي.

همدا ډول، د نفتو، سونګ توکو او اوبو بیې د تېرې میاشتې په پرتله په اګست میاشت کې له ۵.۲ سلنې څخه ۶ سلنې ته زیاتې شوي دي چې عمده لامل یې د برېښنا د بیو (له ۷.۰ سلنې څخه ۷.۹ سلنې ) ته زیاتوالی ګڼل کیږي. د یادولو وړ ده چې د جاپان د مصرفي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۶ زېږدیز کال په دریمه ربعه کې ۰.۱۰ سلنه ثبت شوی دی.

## ۲. راغوږېدلي اقتصادونه

### ۱.۲.۱ د چین اقتصاد

د چین کورني ناخالصه تولیدات د تېر کال په پرتله د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې ۶.۸ سلنه زیات شوي چې د کال د لومړی نیمايي د ۶.۹ سلنې ودې څخه لږ څه کموالی او د تېر کال د ۶.۷ سلنې ودې په پرتله لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. د چین د ثابتې شتمنۍ پانګه اچونه په درېمه ربعه کې راټيټه شوې، خو میاشتنی پرچون پلورنه او صنعتي تولیدات یې زیات شوي دي.

د چین د اسمي ثابتې شتمنۍ پانګه اچونه راکمه شوې، خو تمه کیږي چې د کال په کال سنجش له مخې د ۲۰۱۷ کال په لومړي نیمايي کې ۸.۶ سلنې ته ورسېږي. د دې هېواد صادرات په لومړي نیمايي کې د کمزورۍ کړنې وروسته ښه شوي دي چې لوی لامل یې پیاوړې نړیواله تقاضا ګڼل کیږي.

د چین د خدمتونو او رغاونې د سکتورونو په برخه کې باید وویل شي چې د خدمتونو سکتور د کال په کال سنجش له مخې ۷.۷ سلنه وده موندلې، حال دا چې د رغاونې او صنعت سکتور یوازې ۶.۴ سلنه زیاتوالی موندلی دی. همدا ډول د چین پرچون پلورنې شاوخوا ۱۰ سلنه کال په کال چټکه وده کړې ده.

**۱۲.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړۍ ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه**




سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې د مصرفي توکو د بیې شاخص د کال په کال سنجش له مخې ۱.۶ سلنه زیات شوی دی. دا بیې په کلیوالي سیمو کې ۱.۴ سلنه او په ښارونو کې ۱.۷ سلنه لوړې شوي دي. په ورته وخت کې، د خوراکي توکو بیې ۱.۴ سلنه راټیټې شوي، خو د نا خوراکي توکو بیې بیا ۲.۴ سلنه زیاتې شوي دي. همدا ډول د خدمتونو بیې ۳.۳ سلنه او د مصرفي توکو بیې ۰.۷ سلنه لوړې شوي دي. د جنورۍ له میاشتې څخه تر سپتمبر میاشتې پورې د منځنۍ شمېرې په پام کې نیولو سره د مصرفي توکو بیې د تېر کال له همدې دورې څخه ۱.۵ سلنه لوړې شوي دي.

په سپتمبر میاشت کې د مصرفي توکو د بیو شاخص د میاشتې په میاشتې سنجش له مخې ۰.۵ سلنه زیات شوی، حال دا چې په کلیوالي سیمو کې دا بیې ۰.۶ سلنه او په ښارونو کې ۰.۵ سلنه لوړې شوي دي. همدا ډول د خوراکي توکو بیې ۰.۵ سلنه او د نا خوراکي توکو بیې ۰.۵ سلنه پورته شوي دي. په ورته وخت کې د خدمتونو او د مصرفي توکو بیې په ترتیب سره ۰.۷ سلنه او ۰.۴ سلنه لوړوالی ښکاره کوي.

د چین د بېکارۍ نرخ د ۲۰۱۷ کال د جون میاشتې ته ورته د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې هم ۳.۹۵ سلنه پاتې شوی، په داسې حال کې چې منځنی نرخ یې ۴.۰۹ سلنه ثبت شوی دی. د چین د بېکارۍ نرخ د ۲۰۰۹ کال په دیسمبر میاشتې کې تر ټولو لوړې کچې(۴.۳۰ ) سلنې ته رسېدلی او د ۲۰۰۰ کال په جون میاشت کې تر ټولو ټیټې کچې (۳.۰۰) سلنې ته رسېدلی ؤ. همدا ډول، د چین نفوس د ۲۰۱۶ کال په دیسمبر میاشت کې ۱،۳۸۲.۷۱ میلیون ته رسېږي. د ۲۰۱۷ کال په وروستیو کې د دې هېواد د کاري ځواک د ګډون نرخ ۷۰.۵۴ سلنې ته راغورځېدلی دی.

د چین سوداګریزه ډېریدنه د پام وړ ټیټوالی موندلی چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۲.۹۴ میلیارده امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې موده کې ۲۸.۶۱ میلیارده امریکایي ډالرو ته راکمه شوې ده چې دا د مارچ میاشتې راهیسې د وارداتو د ښه والي له امله تر ټولو لږه سوداګریزه ډېریدنه ګڼل کیږي. د چین واردات د تېر کال په پرتله ۱۸.۶ سلنه لوړ شوي چې ارزښت یې د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې ۱۶۹.۷۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي. په ورته وخت کې د دې هېواد د اوسپنیزو ډبرو واردات ۱۰۳ میلیون ټنه زیاتوالی ثبت کړی دی، په داسې حال کې چې د مسو واردات د مارچ میاشتې راهیسې تر ټولو لوړ حد ته رسېدلي دي. د دې ترڅنګ، د سویا واردات ۸.۱ میلیون ټنو ته رسېږي چې ۱۲.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې لوی لامل یې په سویلي امریکې کې له تمې لرې د لوبیا پرېمانه تولیدات ښودل شوي دي. سربېره پر دې د چین صادرات ۱۹۸.۲۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تیرې دورې په پرتله ۸.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. حال دا چې دا شمېره د ۸.۸ سلنه اټکل شوې کچې څخه ټیټه ده خو د اګست میاشتې د ۵.۵ سلنې څخه لوړه ده.

**۲.۲.۱ د هند اقتصاد**

د هند کورني ناخالصه تولیدات د ۲۰۱۷ کال د دویمې ربعې د ۵.۷ سلنې او د تېر کال د ۷.۵ سلنې ودې په پرتله د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې ۶.۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی چې د خپلواکو اټکلونو سره مطابقت لري. همدا ډول، د دې هېواد تولیدي کړنې د یوې لنډې مودې بندښت وروسته چې د توکو او خدمتونو د مالیې د اجراء په برخه کې د ناډاډمنتیاوو له امله رامنځ ته شوی ؤ، د ساتنځایونو

او ګډامونو د بیا ډکېدو له امله چټکه شوي دي. په ورته وخت کې باید یادونه وشي چې د کرنې سکتور د دویمې ربعې د ۲.۳ سلنې څخه په درېمه ربعه کې ۱.۷ سلنې ته ټیټوالی موندلی دی چې لامل یې د خریفو نامساعده تولیدات په ګوته شوی دی. همدا ډول د دې هېواد تولیدي سکتور د ۱.۲ سلنې په پرتله ۷ سلنه وده موندلې، حال دا چې د برېښنا تولید او د کان کیندنې تولیدات یې د لومړي ربعې په پرتله په ترتیب سره ۵.۵ سلنه او ۷.۶ سلنه چټکه وده ښکاره کوي. باید یادونه وشي چې د خدمتونو د زیاترو سکتورونو وده کمه شوې چې له دې ډلې عامه لګښتونه د لومړی ربعې د ۹.۵ سلنې په پرتله په دویمه ربعه کې ۶ سلنه وده موندلې ده.

د هند د مصرفي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې ۳.۲۸ سلنه ثبت شوی، په داسې حال کې چې د شمېرو له مخې د خوراکي توکو بیې د ۲۰۱۷ کال د اګست د میاشتې د ۱.۵۲ سلنې په پرتله په سپتمبر میاشت کې ۱.۲۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د صنعتي تولیداتو شاخص په جولای میاشت کې د ۰.۹ سلنې زیاتوالي وروسته په اګست میاشت کې ۴.۳ سلنه وده موندلې، او د نا خوراکي توکو کټګوري لکه د نفتو او سونګ موادو د انفلاسیون نرخ په سپتمبر میاشت کې 5.56 سلنې ته لوړ شوی دی. په همدې حال کې له شېدو څخه د تولید شویو محصولاتو بیې ۳.۸۷ سلنه او د غوښې او ماهي بیې ۳.۱۹ سلنه زیاتې شوې دي. د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې د چمتو شویو خوړو، چپسو او خوږو توکو انفلاسیون ۵.۰۶ سلنې، د کلچو او بوره ۶.۷۷ سلنې او د غیر الکولي مشروباتو ۲.۲۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. د ۲۰۱۶ کال د اپریل ـ اګست میاشتو په پرتله د ۲۰۱۷ کال په ورته موده کې ټولیزه شاخص ۲.۲ سلنه وده موندلې ده.

د هند د صادراتو کچه د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې ۲۸،۶۱۳.۴۱ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ کال د درېمې ربعې د ۲۲،۷۶۸.۳۵ میلیون امریکایي ډالرو په پرتله ۲۵.۶۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې موده کې د صادراتو لسو توکو ډلو د تېر کال په پرتله مثبته وده ښکاره کړې چې د ټولیزه صادراتو ۸۲.۱۴ سلنه ونډه جوړوي. دا توکي قیمتي عناصر او سره زره (۷.۱۰ سلنه)، د انجنیرۍ وسایل (۴۴.۲۴ سلنه)، پترولیمي تولیدات (۳۹.۶۹ سلنه)، عضوي او غیر عضوي کیمیاوي مواد (۴۶.۰۶ سلنه)، د ټولو منسوجاتو RMG (۲۹.۳۹ سلنه)، درمل او د فارمسی محصولات (۱۴.۶۷ سلنه)، د پنبې محصولات/جامې/د سینګار توکي، نخي لاسي ټوکر او داسې نور (۱۵.۲۰ سلنه)، بحري محصولات (۳۲.۷۳ سلنه)، وریجې (۴۵.۶۶ سلنه) او برېښنایي توکي (۱۴.۳۲ سلنه) دي. د هند سوداګریزه کسر د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې ۸،۹۸۴.۲۹ میلیونه امریکایي ډالره اټکل شوی دی چې د ۲۰۱۶ کال د درېمې ربعې د ۹،۰۷۰.۶۷ میلیون امریکایي ډالره سوداګریز کسر په پرتله ۰.۹۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

**۱۳.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د کلنې ودې نرخ، ۲۰۱۵ لومړی ربعه – ۲۰۱۷ درېمه ربعه**




سرچینه: د هند د احصائیې او د پروګرام تطبیقولو وزارت

### ۳.۲.۱ د ترکيې اقتصاد

د ترکيې کورني ناخالصه توليدات د ۲۰۱۶ کال د دريمې ربعې په پرتله د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې ۱۱.۱ سلنه زيات شوي دي. د دې هېواد کورني ناخالصه توليدات د اوسني بيې پر بنسټ ۸۲۷،۲۳۰ ميليون ترکي لېرې ته رسيږي چې ۲۴.۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د تېر کال د ورته مودې په پرتله د ارزوني لاندې موده کې د کرنې سکتور ۲.۸ سلنه، د صنعت سکتور ۱۴.۸ سلنه، د رغاونې سکتور ۱۸.۷ سلنه، د خدمتونو سکتور ۲۰.۷ سلنه (عمده او پرچونې سوداګرۍ، ټرانسپورټ، ساتنځای، د استوګنځی او خوړو خدمتونه) وده موندلې ده.

د کليزې پر بنسټ عيار شوي کورني ناخالصه توليدات ښکاره کوي چې د ۲۰۱۶ کال د دريمې ربعې په پرتله د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې کورني ناخالصه توليدات ۹.۶ سلنه زيات شوي دي.

**۱۴.۱ ګراف: د ترکيې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶ لومړۍ ربعه –۲۰۱۷ دريمه ربعه**




سرچينه: د ترکيې د احصائيې انسټيټوټ

د ترکيې د انفلاسيون نرخ د تېرې ربعې د ۱۰.۹ سلنې څخه د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې ۹.۸ سلنې ته راټيټ شوی، حال دا چې د تېر کال په دريمه ربعه کې دا نرخ ۱۱.۲۰ سلنه ثبت شوی ؤ. د ترکيې د مصرفي توکو د بيو شاخص د ټرانسپورټ په برخه کې ۱.۵۸ سلنه، د متفرقه توکو او خدمتونو په برخه کې ۱.۳۴ سلنه، د هوټلونو، کافو او ريسټورانټونو په برخو کې ۱.۰۲ سلنه او د پوښاک او څپليو په برخه کې ۰.۸۰ سلنه زياتوالی موندلی دی، په داسې حال کې چې په عمده ډلو کې يوازې خوراکي توکي او غير الکولي مشروبات ۰.۲۳ سلنه راکم شوي دي.

بايد ووېل شي چې د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې د ۴۱۴ توکو د منځني بيو له ډلې څخه د ۶۱ توکو منځنۍ بيې ثابتې پاتې شوې، په داسې حال کې چې د ۲۸۱ توکو منځنۍ بيې زياتې او د ۷۲ توکو منځني بيې راټيټې شوي دي. د ترکيې د موسم پر بنسټ عيار شوی د بېکارۍ نرخ ۱۰.۶ سلنه ثبت شوی چې د ۲۰۱۷ کال د دريمې ربعې پرمهال ۰.۰۰۷ سلنه راټيټ شوی دی. په ورته وخت کې، له کرنې پرته د بېکارۍ نرخ ۱۲.۸ سلنه ثبت شوی چې ۰.۰۰۹ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. حال دا چې د ۱۵ او ۲۴ کلونو ترمنځ عمر لرونکو وګړو د بېکارۍ نرخ ۲۰ سلنه ثبت شوی چې ۰.۰۰۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي، د ۱۵ او ۶۴ کلونو ترمنځ عمر لرونکو وګړو د بېکارۍ نرخ بيا ۱۰.۸ سلنه ثبت شوی چې ۰.۰۰۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د يادولو وړ ده چې د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې د ۱۵ کلونو او له دې پورته بېکارو وګړو شمېر ۳ ميليونه او ۴۱۹ زرو تنو ته راکم شوی چې ۱۰۴ زره تنه ټيټوالی ښکاره کوي.

د ترکيې د بهرنۍ سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۷ کال په دريمه کې ۸.۱۳۵ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۲۰۱۶ کال د دريمې ربعې د ۴.۳۶۲ ميلیارده امريکايي ډالرو په پرتله ۸۵ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

د ۲۰۱۷ کال په دريمه ربعه کې د ترکيې د صادراتو کچه ۱۱.۸۴۸ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تېرې ورته دورې د ۱۰.۹۳۵ ميلیارده امريکايي ډالرو په پرتله

۸.۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او همدا د دې هېواد د وارداتو کچه د ارزونې لاند مودې په اوږدو کې ۱۹.۹۸۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د ۲۰۱۶ کال د دریمې ربعې د ۱۵.۲۹۶ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله ۳۰.۶ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. همدا ډول، د ۲۰۱۷ کال په درېمه ربعه کې د صادراتو په وړاندې د وارداتو نسبت ۵۹.۳ سلنه ثبت شوی، حال دا چې د تېر کال په ورته ربعه کې دا شمېره ۷۱.۳ سلنه وه.

# ۲

## د بانکي او پولي بازار بدلونونه

# ۲
# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي سکتور د بېلابېلو شاخصونو د شمېرو له مخې پولي زیرمې د روان کال په لومړیو کې ۱.۱۱ سلنې ته رسېږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د همدې مودې د ۵.۶۳ سلنې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پیسې چې د پولي زیرمې یوه مهمه برخه جوړوي، د تېر کال د دریمې ربعې د ۰.۱۰ سلنه مثبتې ودې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۰.۳۳ سلنه منفي وده ثبت کړې ده. د پولي زیرمې بله مهمه برخه د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو امانتونه (د شپې امانتونه، الزامي زیرمې او جاري امانتونه) دي چې د تېرې ربعې د ۱۹.۹ سلنه زیاتوالی په پرتله د ۲۰۱۷ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې ۸.۴۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ارزونې لاندې موده کې د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو وده چې د افغانستان بانک عملیاتي او ضمني هدفونه جوړوي، له ټاکل شوي هدفونو څخه ډېره ټیټه پاتې شوې ده.

د ۲۰۱۷ مالي کال له پیل څخه د سپتمبر تر ۲۲ نیټې پورې د افغانستان بانک په خالصه نړیوالو زیرمو کې ۵.۶۲ سلنه (۳۸۵ میلیون امریکایي ډالر) زیاتوالی تجربه کړی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د دریمې ربعې په پای کې ۴۱۲،۸۴۳ میلیون افغانۍ ته رسېږي چې ۴.۸۳ سلنه (کال په کال) وده یې ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې کچه یې ۴۵۰،۴۳۷ میلیون افغانۍ ته رسېږي او ۶.۰۲ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د پولي زیرمو د ودې او کنټرول لپاره د آزاد بازار تر عملیاتو لاندې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو د پلور له پولي ابزارونو څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې په ټولیزه توګه ۱،۵۳۸.۲۴ میلیون امریکایي ډالر لیلام کړي دي، څو په بازار کې د سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او له حده زیات نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه د ارزونې لاندې مودې په پای کې ۴۱.۵۷۰ میلیارد افغانۍ ته رسېږي. د روان کال د لومړیو دریو ربعو په اوږدو کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۲.۱ سلنه راکم شوی دی.

### ۱.۲ پولي پروګرام

د افغانستان بانک د پولي سیاست د اډانې پر بنسټ، پولي زیرمې د یو مهم عملیاتي هدف (د کړنې د معیار) په توګه او په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه پېژندل شوې دي.

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ چې د کورني بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنۍ موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کېږي. له همدې کبله د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې لپاره د پور د تمدید د اسانتیا کلني هدفونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د تمو پر بنسټ ټاکل کېږي. د ۱۳۹۶ مالي کال لپاره د پولي زیرمې او په ګردښت کې د پیسو وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې ده. د روان کال د دریمې ربعې په پای کې د پولي زیرمو حقیقي وده ۱.۱۱ سلنه او په

ګردښت کې د پیسو حقیقي وده منفي ۰.۳۳ سلنه ده چې د ټاکل شوي هدف څخه ډېره ښکته ده. د روان مالي کال په دریمه ربعه کې د انفلاسیون منځنی حد ۴.۵ سلنې او په ۱۳۹۶ مالي کال کې د کورني ناخالصه تولیداتو پلان شوي وده ۳ سلنې ته رسیږي. د افغانستان بانک د ازاد بازار عملیاتو له لارې ۱،۳۲۰.۸۸ میلیون امریکایي ډالره لیلام کړي او ۲۱۷.۳۶ امریکایي ډالر یې په بریښنا شرکت باندې چې د افغانستان د بریښنا دولتي شرکت دی، پلورلي دي څو د بازار څخه اضافي سیالیت لرې کړي او د نړیوالو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د اسمي مبادلې نرخ له زیاتو نوساناتو څخه مخنیوی وکړي. د ۱.۲ او ۲.۲ ګراف د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د حقیقي پولي زیرمو هدف او په ګردښت کې پیسې ښکاره کوي.

**۱.۲ ګراف: د پولي زیرمې هدف او حقیقي کچه، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه – ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ ګراف: په ګردښت کې د پیسو هدف او حقیقي کچه، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه – ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۲ د نقدینګۍ حجم

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) په ترکیب کې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو اجزاوې او داسې نورې لرې سیالې شتمنی یا پیسه وزمه شاملې دي.

د ۱.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴.۸۳ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د شمېرې په پرتله لږ څه ټیټوالی او ۱۹،۰۳۴ میلیون افغانی توپیر ښکاره کوي. د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار یا په ګردښت کې پیسې چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو ۵۲ سلنه جوړوي، د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۳.۳۹ سلنه وده موندلې چې د تېر کال د ورته ربعې ۸.۴ سلنه ثبت شوي ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله د امانت ایښودونکو شرکتونو څخه د بهر اسعارو توپیر ۶،۹۹۵ میلیون افغانی ثبت شوی دی. جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه د پیسو بله برخه جوړوي، د تېر کال د دریمې ربعې د ۲.۲ سلنې ودې په پرتله ۶.۴۲ سلنه وده موندلې ده چې ۱۲.۰۴ میلیون افغانی زیاتوالی ښکاره کوي. د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) کچه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۴۵۰،۴۳۷ میلیون افغانی ته رسیږي چې د تیرې مودې د ۴۲۴،۸۷۵ میلیون افغانی په پرتله ۲۵،۵۶۳ میلیون افغانی توپیر او د تیر کال د ورته مودې له ۷ سلنه ثبت شوې کچې څخه ۶.۰۲ سلنې ته لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي. د اوسنی دورې شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د پراخه مفهوم په توګه د

پیسو M2 تر ټولو ستره برخه ۹۲ سلنه جوړوي.

پیسه وزمه (Quasi Money) یا د سوداګریزو بانکونو موده ایز (میعادي) امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو(M2) بله برخه جوړوي، د کال په کال سنجش له مخې ۲۱.۰۲ سلنه وده کړې ده. که څه هم د تیر کال د ورته ربعې د ۳ سلنې په پرتله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د پراخه مفهوم په توګه پیسو په برخه کې د پیسه وزمې ونډه ۸.۳ سلنې ته زیاته شوې، خو د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه د بدلون اغیزه ډېره کمه ده. په افغانۍ موده ایزه امانتونه هم د روان کال په دریمه ربعه کې زیات شوي دي چې تویر یې د کال له مخې ۴،۳۵۹ میلیون افغانۍ ته رسیږي او د یوه کال په موده کې ۴۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، اسعاري موده ایزه امانتونه ۲،۱۷۰ میلیون افغانۍ ثبت شوي چې د تیر کال په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانۍ موده ایزه امانتونه او اسعاري موده ایزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو په ترتیب سره ۳.۴ سلنه او ۵ سلنه جوړوي.

همدا ډول د M2 د ونډې په توګه جاري امانتونه د تېرې دورې په پرتله د ارزونې لاندې مودې په پای کې ۴۴ سلنه ثابته پاتې شوي دي.

۳.۲ ګراف: خالصه بهرنۍ شتمنۍ، خالصه کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې




۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د امانت اېښودونکو شرکتونو د ۱۳۹۶ مالي کال تحلیلي بیلانس شیټ او پولي حجم ( د ۲۰۱۶ ډیسمبر – ۲۰۱۷ سپټمبر)**

| په میلیون افغانی | د ۲۰۱۵ جون | د ۲۰۱۶ جون | کال په کال د سلنې بدلون | توپیر | د ۲۰۱۷ جون | کال په کال بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | | | مبلغ | | |
| **۱– خالصه بهرنی شتمنی** | **۵۲۹،۸۹۳** | **۵۸۵،۷۵۰** | **۱۰.۵٪** | **۵۵،۸۵۷** | **۶۳۲،۶۹۸** | **۸.۰۲٪** | **۴۶،۹۴۸** |
| (الف) ناخالصه بهرنی شتمنی | ۵۳۸،۴۱۹ | ۵۹۵،۹۸۲ | **۱۰.۷٪** | **۵۷،۵۶۳** | ۶۴۵،۵۵۶ | **۸.۳۲٪** | ۴۹،۵۷۵ |
| د بهرنیو اسعارو زیرمې | ۹۵،۳۹۸ | ۹۵،۷۲۰ | **۰.۳٪** | **۳۲۲** | ۹۵،۸۲۶ | **۰.۱۱٪** | ۱۰۵ |
| سره زر | ۵۰،۷۸۳ | ۶۲،۲۴۶ | **۲۲.۶٪** | **۱۱،۴۶۳** | ۶۲،۵۳۳ | **۰.۴۶٪** | ۲۸۷ |
| نور | ۲۹۲،۷۴۴ | ۳۳۱،۹۱۵ | **۱۳.۴٪** | **۳۹،۱۷۱** | ۳۸۳،۲۶۹ | **۱۵.۴۷٪** | ۵۱،۳۵۴ |
| نورې بهرنی شتمنی | ۹۹،۴۹۳ | ۱۰۶،۱۰۱ | **۶.۶٪** | **۶،۶۰۷** | ۱۰۳،۹۲۸ | **– ۲.۰۵٪** | – ۲،۱۷۳ |
| (ب) بهرنی پوراینې | ۸،۵۲۵ | ۱۰،۲۳۲ | **۲۰.۰٪** | **۱،۷۰۷** | ۱۲،۸۵۸ | **۲۵.۶۷٪** | ۲،۶۲۷ |
| **۲. خالصه کورني شتمني** | **– ۱۳۰،۸۳۷** | **– ۱۵۸،۶۶۳** | **۲۱.۳٪** | **– ۲۷،۸۲۷** | **– ۱۷۹،۷۷۷** | **۱۳.۳۱٪** | **– ۲۱،۱۱۴** |
| (الف) خالصه کورنی کریډټ | – ۲۷،۶۰۲ | – ۴۶،۹۹۴ | **۷۰.۳٪** | – ۱۹،۳۹۳ | – ۵۴،۶۰۸ | **۱۶.۲۰٪** | – ۷،۶۱۴ |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | – ۷۲،۸۷۱ | – ۹۴،۹۱۵ | **۳۰.۳٪** | – ۲۲،۰۴۴ | – ۱۰۱،۲۲۸ | **۶.۶۵٪** | – ۶،۳۱۳ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | – ۷۱،۵۶۲ | – ۹۵،۰۰۹ | **۳۲.۸٪** | – ۲۳،۴۴۷ | – ۱۰۱،۳۲۳ | **۶.۶۵٪** | – ۶،۳۱۳ |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ۲۷،۷۵۶ | ۲۷،۶۸۵ | **– ۰.۳٪** | – ۷۱ | ۱۹،۴۵۷ | **– ۲۹.۷۲٪** | – ۸،۲۲۸ |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | ۹۹،۳۱۸ | ۱۲۲،۶۹۴ | **۲۳.۵٪** | ۲۳،۳۷۶ | ۱۲۰،۷۸۰ | **– ۱.۵۶٪** | – ۱،۹۱۴ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | **۰.۰٪** | ۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | – ۱،۳۰۹ | ۹۴ | **– ۱۰۷.۲٪** | ۱،۴۰۳ | ۹۴ | **۰.۰۰٪** | ۰ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ۴۶،۸۲۳ | ۴۹،۳۰۵ | **۵.۳٪** | ۲،۴۸۲ | ۴۷،۷۷۰.۵۶ | **– ۳.۱۱٪** | – ۱،۵۳۴ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | – ۱،۵۵۳ | – ۱،۳۸۴ | **– ۱۰.۹٪** | ۱۶۹ | – ۱،۱۵۰.۴۰ | **– ۱۶.۸۹٪** | ۲۳۴ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ۱۳۳،۲۴۴ | ۱۳۵،۰۷۲ | **۱.۴٪** | ۱،۸۲۸ | ۱۵۱،۷۳۱ | **۱۲.۳۳٪** | ۱۶،۶۵۹ |
| (ت) نور خالصه اقلام | ۳۰،۰۰۹ | ۲۳،۴۰۳ | **– ۲۲.۰٪** | – ۶،۶۰۶ | ۲۶،۵۶۲ | **۱۳.۵۰٪** | ۳،۱۵۹ |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | **۳۹۷،۰۲۵** | **۴۲۴،۸۷۵** | **۷.۰٪** | **۲۷،۸۵۰** | **۴۵۰،۴۳۷** | **۶.۰۲٪** | **۲۵،۵۶۳** |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | **۳۷۳،۷۰۱** | **۳۹۳،۸۰۹** | **۵.۴٪** | **۲۰،۱۰۸** | **۴۱۲،۸۴۳** | **۴.۸۳٪** | **۱۹،۰۳۴** |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې د امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ۱۹۰،۱۹۰ | ۲۰۶،۱۷۵ | **۸.۴٪** | ۱۵،۹۸۵ | ۲۱۳،۱۷۰ | **۳.۳۹٪** | ۶،۹۹۵ |
| جاري امانتونه | ۱۸۳،۵۱۱ | ۱۸۷،۶۳۴ | **۲.۲٪** | ۴،۱۲۳ | ۱۹۹،۶۷۳ | **۶.۴۲٪** | ۱۲،۰۳۹ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ۲۳،۳۲۳ | ۳۱،۰۶۵ | **۳۳.۲٪** | ۷،۷۴۲ | ۳۷،۵۹۴ | **۲۱.۰۲٪** | ۶،۵۲۹ |
| په افغانی امانتونه | ۸،۰۹۹ | ۱۰،۹۶۴ | **۳۵.۴٪** | ۲،۸۶۵ | ۱۵،۳۲۳ | **۳۹.۷۶٪** | ۴،۳۵۹ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ۱۵،۲۲۵ | ۲۰،۱۰۲ | **۳۲.۰٪** | ۴،۸۷۷ | ۲۲،۲۷۱ | **۱۰.۷۹٪** | ۲،۱۷۰ |
| غیر نغدي پوراینې | **۲،۰۳۲** | **۲،۲۱۲** | **۸.۹٪** | ۱۸۰ | **۲،۴۸۳** | **۱۲.۲۶٪** | **۲۷۱** |

**سرچینه:** پولي سروې، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو د نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پاونډ او داسې نور شامل دي. د افغانستان نړیوالې زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیوالې زیرمې د ۳۸۵.۳۳ میلیون امریکایي ډالره (۵.۶۲) سلنه زیاتوالی موندلی دی. د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر میاشتې په ۲۲ نیټه کې د خالصه نړیواله زیرمو کچه ۶،۸۹۹.۶۶ میلیون امریکایي ډالره ټاکل شوې وه، خو حقیقي کچه یې په دې موده کې ۷،۲۳۷.۲۶ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې شمېره د تېر کال په همدې موده کې ۶،۸۵۱.۹۳ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې وه. لاندې ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او د هغه د هدف بهیر ښکاره کوي.

۵.۲ ګراف: د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف، په میلیون امریکایي ډالر، ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار

#### ۱.۴ د اسعارو د مبادلې نرخونه

د افغانستان بانک نهایي موخه د بیو د ټیکاو ساتل دی، خو د افغانستان بانک د خپل اصلي هدف ترڅنګ د اسعارو د مبادلې په بازارونو کې د اسعارو د مبادلې نوسانونو ته هم متوجه وي.

د ۱۳۹۶مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانۍ ارزښت د هندي روپۍ، پاکستاني روپۍ او ایراني تومان په وړاندې ثابته پاتې شوی، خو د نړیوالو اسعارو لکه امریکایي ډالرو، یورو او پاونډ په وړاندې راکم شوی دی.

د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ منځنۍ نرخ په لاندې ګراف کې وړاندې کیږي.

۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ – د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه



۷.۲ ګراف: د انګلیسي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۸.۲ ګراف: د هندي او پاکستاني روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ – د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




۹.۲ ګراف: د ایراني تومان په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ – د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: پولي څانګه، د پولي سیاست امریت، د افغانستان بانک

### ۵.۲ د ازاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط

#### ۱.۵.۲ د اسعارو لیلام

د نقدینګۍ او د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک په اونۍ کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک ورڅخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د افغانستان بانک په دوامداره توګه د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کړی، څو له بازار څخه اضافي نقدینګي لرې کړي او د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو نوسانونو مخه ونیسي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال د دریو لومړیو ربعو په اوږدو کې د آزاد بازار د عملیاتو د پروسې له لارې په ټولیزه توګه ۱۳۲۰.۸۸ میلیون امریکایي ډالره لیلام کړي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۱۸۳۸.۰۱ میلیون امریکایي ډالره وه. په اوسط ډول په هر لیلام کې ۴۴ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۳۱ داوطلبان ګټوونکی اعلان شوي دي چې په هر لیلام کې په اوسط ډول ۱۲.۲۳ میلیون امریکایي ډالره پلورل شوي دي. د هر لیلام تر ټولو ټیټ، لوړ او کسر شوی منځنی ارزښت په ترتیب سره ۶۷.۶۲، ۶۷.۸۱ او ۶۷.۷۶ ؤ. د ۲۰۱۶ کال په ورته موده کې دا شمېرې لوړې ثبتې شوې دي. د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ټولیزه ورکړل شوی مبلغ ۱،۳۶۱.۴۸ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي په داسې حال کې چې ټولیزه تقاضا ۱،۹۱۰.۱۵۵ میلیون امریکایي ډالره وه. په روان کال کې په اوسط ډول ۴۷ داوطلبانو په هر لیلام کې ګډون کړی چې له دې ډلې ۳۳ ګټوونکو داوطلبانو ته په هر لیلام کې په اوسط ډول ۱۲.۶۱ میلیون امریکایي ډالر ورکړل شوي دي. لاندې ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوي او د تقاضا مبلغ ښکاره کوي.

۱۰.۲ ګراف د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړیو دریو ربعو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام

پانګه ایزې د افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکي پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار مشتریانو او ډېرى جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو باندې په اوونى کې یو ځل پلورل کیږي.

د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د پولي ابزار په توګه کار اخلي څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کړي. له پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو د اضافي نقدینګۍ د جذبولو لپاره کارول کیږي. اوس مهال، د افغانستان بانک د یوې اونۍ، یوې میاشتې، درېو میاشتو، شپږو میاشتو او د یو کال سر رسیدو مودو پانګه ایزې پاڼې بازار ته وړاندې کوي. د ۱۳۹۶ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې ونډه ۴۱.۵۷۰ میلیارد افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۱.۱۰۸ میلیارد افغانۍ په پرتله ۳۳.۶۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د اووه ورځني پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۸،۸۹۰ میلیون افغانۍ ته رسیږي، په داسې حال کې چې دا ونډه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته موده کې ۱،۰۵۰ میلیونه افغانۍ ثبت شوې ده.

همدا ډول، په دې موده کې د ۲۸ ورځني پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۲،۲۷۰ میلیون او د ۹۱ ورځني پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۱۱،۸۰۸ میلیون افغانۍ ثبت شوې ده. د ۱۸۲ ورځني او ۳۶۴ ورځني پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه په ترتیب سره ۷،۹۹۰ میلیون افغانۍ او ۱۰،۶۱۲ میلیون افغانۍ ته رسیږي. د ارزونې لاندې مودې په پای کې د پانګه ایزو پاڼو په وړاندې ټولیزه ورکړل شوې ټکټانه ۹۴۳.۹۶ میلیون افغانۍ ته رسیږي.

سربېره پر دې، د ۲۰۱۷ مالي کال په درېمه ربعه کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې اوسط نرخ ۱.۸ سلنه او د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نرخ ۳.۲۸ سلنه ؤ، په داسې حال کې چې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نرخ ۳.۴۷ سلنه او د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو نرخ ۳.۲۳ سلنه او په پای کې د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو نرخ ۶.۳۳ سلنه ثبت شوی دی چې د شمیرو د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې لږ څه نوسانونه هم ترشاه درلودل.

**۱۱.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه، ۲۰۱۷ کال درېمه ربعه**




**۱۲.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوي مبلغ، په میلیون افغانۍ**



۱۳.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ، په میلیون افغانۍ




۱۴.۲ ګراف: د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ، په میلیون افغانۍ




۱۵.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ، په میلیون افغانۍ




۱۶.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ، په میلیون افغانۍ




سرچینه: پولي څانګه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریزه بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک په افغانۍ حسابونو او ۱۰ سلنه په اسعاري حسابونو کې د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د پورته امانتونو په بدل کې سوداګریزو بانکونو ته هیڅ ډول ګټتانه نه ورکول کیږي. د افغانستان بانک د ۲۰۱۵ کال د جون د ۲۸ نیټې وروسته د الزامي زیرمو لپاره د ګټتاني ورکړه ودروله ده او له دې نیټې راهیسې یې هیڅ سوداګریز بانک ته د اجباري زیرمو په بدل کې ګټتانه ورکړې نه ده.

**د شپې د امانتونو اسانتیا:** دا اسانتیا ټولو سوداګریزو بانکونو لپاره برابره شوې، څو د خپل اضافي بیلانسونو څخه ګټتانه ترلاسه کړي او د پانګه ایزو پاڼو د نرخونو لپاره یو حد تعیین کړي. څکه دا مبلغ د الزامي زیرمو په ډله کې نه شمېرل کیږي. د شپې د امانتونو اسانتیا د ګټتاني نرخ اوس مهال ۰.۱ سلنه دی. ( د یادونې وړ ده چې دا نرخ د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر په ۱۱ نیټه د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منظور شوي متحد المال پر بنسټ په ټولو بانکونو باندې د اجراء وړ دی).

د ارزونې لاندې موده کې د شپې د امانتونو د اسانتیاوو د بیلانسونو اوسط ناترلاسه شوی مبلغ ۱۶،۰۱۸ میلیون افغانۍ ثبت شوی دی. د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په پای کې د یادو اسانتیاوو په بدل کې د ورکړل شوي تکتانې نرخ ۲۹.۸۷ میلیون افغانۍ ته رسیږي.

**د شپې پور اسانتیا:** دا اسانتیاوې د سوداګریزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتیاوو لپاره کارول کیږي او بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل د نغدي سیالیت کې له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې په اساس د افغانستان بانک څخه په افغانۍ پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تېرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه لوړ دی. دا پور اخیستنه د ۲۰۰۷ کال د فبروری د ۲۷ نیټې د متحد المال پر بنسټ د پانګه ایزو پاڼو یوازې د ناتصفیه شوې مبلغ په مرسته تضمین کیږي.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هیڅ بانک د پور له اسانتیا څخه برخمنه شوې نه ده.

# ۳

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

## ۳
## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د ۱۳۹۶ کال په درېمه ربعه کې د صنعتي تولیداتو بیې لوړې شوې دي، په داسې حال کې چې د کرنیزو محصولاتو بیې بیا په پراخه کچه ثابته پاتې شوي دي. د نفتو په بازار کې د پیاوړي تقاضا، د OPEC د تولیداتو محدودیت او د امریکایي اومه (شیل) نفتو په تولید کې له ثبات سره سره هم د موجودې بیې راکمې شوي دي. تمه کېږي چې د اومه نفتو د یو بیرل بیې د ۱۳۹۶ مالي کال کې په اوسط ډول ۵۳ امریکایي ډالرو ته ورسېږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د ۴۳ امریکایي ډالرو په پرتله لوړوالی ښکاره کوي او دا شمېره به په ۱۳۹۷ کال کې ۵۶ امریکایي ډالرو ته لوړه شي چې دا اټکل د ۲۰۱۷ کال د اپریل میاشتې د وړاندې وینې په پرتله لږ څه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول، تمه کېږي چې د فلزونو بیې د پیاوړي تقاضا او د عرضې د محدودیتونو په ځانګړې توګه د چین د چاپېریال اړوند د عرضې د کمښتونو له امله په ۲۰۱۷ کال کې ۲۲ سلنې ته لوړې شي. تمه کېږي چې د اوسپنې د ډبرو سربېره، نور ټولو فلزونو بیې په ۱۳۹۷ مالي کال کې په اوسط ډول لوړې شي.

په ۱۳۹۶ مالي کال کې د کرنیزو توکو بیې په پراخه کچه ثابته پاتې شوي او تمه کېږي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې په لږه اندازه لوړې شي. د خوراکي توکو ډېرو بازارونو ته په زیاته کچه محصولات وړاندې کېږي او همدا ډول وړاندې وینه کېږي چې د یو شمېر غله جاتو د زېرمې په پرتله د مصرف نسبت د څو کلونو په اندازه لوړ شي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د انرژۍ بیې ۲ سلنه زیاتې شوي او ورپسې د ډبرو سکارو بیې په چین کې د زیاتې تقاضا او د عرضې د ځینو محدودیتونو له امله خورا ډېرې لوړې شوي دي. د اومه نفتو بیې د تېرې ربعې په پرتله ۵۰.۲۰ سلنې ته لوړې شوي چې ۱.۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د نفتو بیې د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې ټیټ بهیر ښکاره کړی چې عمده لامل یې زیاته اندازه موجودي، د امریکایي د اومه نفتو په تولید کې ښه والی او د OPEC د غړو هېوادونو لخوا په تولید کې زیاتوالی ښودل شوي دي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د موجودې د کمېدو په پایله کې بیې لږ څه بیرته لوړې شوي دي چې اصلي لاملونه یې زیاته نړیواله تقاضا، له هوکړه لیک سره سم د OPEC او د غیر OPEC تولیدوونکو غړو د مطابقت ښه والی او د امریکایي د اومه نفتو په تولید کې زیاتوالی ګڼل کېږي. په اروپا کې د طبیعي غازو بیې او په آسیا کې د طبیعي مایع غازو بیې چې له نفتو سره اړه لري، ثابته پاتې شوي دي.

همدا ډول، د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د غیر انرژۍ توکو بیې هم ۲ سلنه لوړې شوي چې د سترو ډلو په منځ کې لوی بدلونونه ښکاره کوي. په دې موده کې د زیاتې تقاضا په ځانګړې توګه د چین د ملکیتونو، بیخبنسټونو او د تولیدي سکتورونو د تقاضا له امله د فلزونو بیې ۱۰ سلنه لوړې شوي دي. د قیمتي فلزونو بیې د پانګونې لپاره د ثابته تقاضا او د کمزوره ډالري وضعیت له امله یوه سلنه لوړه شوي دي.

د کرنیزو محصولاتو بیې نېږدې ۱ سلنه راټیټې شوي چې د کال د پیل راهیسې کمزوره بهیر ښکاره کوي. د خوراکي توکو بیې ۱ سلنه راټیټې شوي چې د جوارو، وریجو او نورو خوراکي توکو لکه د بورې د بیو ټیټوالی ښکاره کوي. د نفتو او د فلزونو بیې نېږدې یوې سلنې ته لوړې شوې چې اصلي لامل یې په شمالي امریکې کې د تمې څخه د لږو محصولاتو د تولید له امله د سویا د بیو لوړوالی په ګوته شوی دی. د څښاکو بیې د قهوې د بیو د

زیاتېدو له امله لږ څه لوړې شوي دي. د اومه موادو بیې ۲ سلنه زیاتې شوي چې ستر لامل یې په شمالي افریقا او منځني ختیځ کې د یوریا (کیمیاوي سرې) پرېمانه تولید ښودل شوی دی.

په پای کې باید وویل شي چې د توکو د نړیوال بازار په بیو کې مثبت بهیر راغلی دی چې د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې یې د افغانستان د توکو کورني بیې هم اغېزمنه کړي دي.

**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې**

اوس مهال په افغانستان کې د مصرفي توکو د بیو شاخص (CPI) د ۲۰۱۵ کال د اپریل میاشتې د بیو پر بنسټ راټولیږي، حال دا چې مخکې د مصرفي توکو د بیو شاخص د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې د بیو پر بنسټ محاسبه کېده. همدا ډول، په دې بدلون کې د مصرفي توکو د بیو د شاخص اجزاوې هم د نویو وزنونو سره په جوړښت کې قرار لري. د احصائیې د مرکزي اداري د شمېرو او د افغانستان بانک د څېړنیزو معلوماتو له مخې، د افغانستان د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې لاندني پایلې لیدل شوي دي.

د ۱۳۹۶مالي کال په درېمه ربعه کې د مصرفي توکو د بیو شاخص د بدلونونو د کال په کال سنجش له مخې په اوسط ډول ۴.۵ سلنه د انفلاسیون نرخ ښکاره کوي چې د تېر کال د ورته دورې د ۷.۲ سلنې په پرتله کموالی په ګوته کوي. د انفلاسیون نرخ د ټیټوالي اصلي لامل په نړیوال بازار کې د توکو د بیو کموالی او ثبات دی. د راپورونو پر بنسټ، د نړیوالو توکو د بیو د شاخص ډېری توکو د تېرې ربعې په پرتله په ۱۳۹۶ مالي کال کې ټیټې بیې درلودلې دي.

همدا ډول د کال په کال پرتلې په څېر د انفلاسیون نرخ د ربعې په ربعې سنجش له مخې هم د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ټیټېدونکی بهیر درلودلی دی.

د کابل د مصرفي توکو د بیو شاخص هم د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې دیفلاسیوني بهیر درلودلی دی. د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۷.۴ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۴.۶ سلنې ته راښکته شوی دی. باید یادونه وکړو چې د ربعې په ربعې محاسبې پربنسټ دا شاخص د تېرې ربعې له ۷.۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۴.۶ سلنې ته راټیټ شوی دی.

**۱.۱.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو په شاخص کې بدلونونه**

**۱.۱.۱.۳ کلني بدلونونه**

د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د کال په کال سنجش له مخې د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د شته شمېرو پر بنسټ، د کال په کال سنجش پر بنسټ د عمومي انفلاسیون نرخ په اوسط ډول ۴.۵ سلنې ته راکم شوی چې د تېر کال د همدې دورې د ۷.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د میاشتې د سنجش له مخې د انفلاسیون نرخ د جولای، اګست او سپتمبر میاشتو لپاره په ترتیب سره ۵.۱ سلنه، ۴.۵ سلنه او ۳.۸ سلنه ثبت شوی دی.

د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د انفلاسیون د لوړېدو عمده لامل کور جوړونه او ټرانسپورټ په ګوته شوي، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د دې کټګورۍ د نورو توکو بیو لکه تنباکو، پوښاک، فرنیچر او کورني توکي، روغتیا، اړیکې، معلومات او کلتور، ښوونه او روزنه، رستورانتونه او هوټلونو د

انفلاسیون نرخ په تیتوالي کې ونډه درلودلې ده. په یاده کټګورۍ کې تر ټولو زیات لوړوالی د ټرانسپورټ د بیو په شاخص کې لیدل شوی چې د تېر کال د دریمې ربعې له منفي ۱.۰ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۶.۲ سلنې ته زیات شوی دی. حال دا چې د بیو په شاخص کې تر ټولو زیات ټیټوالی د ښوونې او روزنې په برخه کې راغلی چې د ۲۰۱۶ کال د دریمې ربعې د ۱۷.۶ سلنې په پرتله د ۲۰۱۷ کال په دریمه ربعه کې په اوسط ډول ۳.۱ سلنې ته راښکته شوی دی. اصلي انفلاسیون هم د تېرې دورې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ټیټپدونکی بهیر ښکاره کوي. د انفلاسیون د اوسط مونډلو میتود (Trimmed Mean) چې د اصلي انفلاسیون د سنجش تر ټولو بنسټیزه طریقه ګڼل کیږي، د تېرې دورې له ۷.۸ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۳.۱ سلنې ته کموالی ښکاره کوي. همدا ډول، د مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته، د تېرې دورې د ۸.۰ سلنې څخه د ارزونې لاندې مودې کې ۴.۳ ته راټیټ شوی دی.

۱.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون (کال په کال)




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

| ۱.۳ جدول: د ملي انفلاسیون د اجزاوو ویشنه، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دوران | وزن | ۲۰۱۶<br>د ۲۰۱۱ د مارچ پر بنسټ | | | | وزن | ۲۰۱۷<br>د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | |
| | | د ۲۰۱۶ جولای | د ۲۰۱۶ اګست | د ۲۰۱۶ سپټمبر | د ۲۰۱۶ دریمه ربعه | | د ۲۰۱۷ جولای | د ۲۰۱۷ اګست | د ۲۰۱۷ سپټمبر | د ۲۰۱۷ دریمه ربعه |
| ټولیز شاخص | **۱۰۰.۰** | ۷.۴ | ۷.۳ | ۶.۹ | ۷.۲ | **۱۰۰.۰** | ۵.۱ | ۴.۵ | ۳.۸ | ۴.۵ |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | **۵۲.۰** | ۸.۷ | ۸.۹ | ۸.۳ | ۸.۶ | **٤۷.۸** | ۷.۴ | ۵.۹ | ۵.۴ | ۶.۲ |
| ډوډۍ او حبوبات | **۱۷.۷** | ۷.۹ | ۶.۰ | ۴.۰ | ۶.۰ | **١٤.٦** | ۴.۰ | ۴.۳ | ۳.۲ | ۳.۸ |
| غوښه | **۷.۲** | ۹.۴ | ۱۱.۹ | ۱۱.۳ | ۱۰.۹ | **۷.۵** | ۷.۳ | ۴.۴ | ۴.۸ | ۵.۵ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | **٤.۸** | ۳.۱ | ۲.۶ | ۲.۲ | ۲.۶ | **٤.۷** | ۲.۰ | ۲.۱ | ۳.۷ | ۲.۶ |
| غوړي او شحمیات | **٤.۰** | ۷.۶ | ۷.۷ | ۹.۸ | ۸.۴ | **٤.٦** | ۹.۱ | ۹.۶ | ۶.۱ | ۸.۳ |
| تازه او وچه میوه | **٤.۸** | ۷.۳ | ۴.۳ | ۱۰.۰ | ۷.۲ | **۵.۰** | ۵.۹ | ۶.۳ | ۶.۹ | ۶.۴ |
| سبزیجات | **۷.۹** | ۹.۵ | ۱۴.۹ | ۱۳.۳ | ۱۲.۶ | **٦.۰** | ۲۴.۷ | ۱۸.۰ | ۲۰.۲ | ۲۱.۰ |
| بوره او خواږه توکي | **۲.۹** | ۲۳.۷ | ۲۷.۳ | ۲۴.۱ | ۲۵.۱ | **۲.۷** | ۳.۶ | -۰.۴ | -۲.۹ | ۰.۱ |
| اچار، ترشي او... | **۰.۹** | ۱۹.۹ | ۲۰.۴ | ۲۰.۰ | ۲۰.۱ | **۱.۳** | ۱.۱ | -۳.۷ | -۷.۵ | -۳.۴ |
| غیر الکولي څښاک | **۱.۸** | ۶.۹ | ۶.۹ | ۶.۱ | ۶.۶ | **۱.٤** | ۳.۲ | ۲.۷ | ۲.۳ | ۲.۷ |
| غیر خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | **٤۸.۰** | ۵.۹ | ۵.۶ | ۵.۲ | ۵.۶ | **۵۲.۲** | ۳.۰ | ۳.۳ | ۲.۴ | ۲.۹ |
| تنباکو | **۰.٤** | ۱۵.۹ | ۱۲.۹ | ۱۳.۳ | ۱۴.۰ | **۰.۳** | ۸.۵ | ۸.۸ | ۶.۷ | ۸.۰ |
| پوښاک | **۷.۰** | ۹.۴ | ۸.۳ | ۷.۸ | ۸.۵ | **٤.٦** | ۱.۶ | ۲.۵ | ۰.۸ | ۱.۶ |
| کور جوړونه (استوګنځی) | **۲۰.۷** | ۳.۸ | ۴.۱ | ۳.۴ | ۳.۸ | **۱۹.۱** | ۴.۷ | ۵.۳ | ۳.۷ | ۴.۶ |
| فرنیچر او کورني توکي | **۷.۰** | ۹.۳ | ۹.۶ | ۸.۶ | ۹.۱ | **۱۱.۹** | ۲.۳ | ۲.۳ | ۱.۹ | ۲.۲ |
| روغتیا | **۳.۳** | ۹.۸ | ۸.۶ | ۹.۳ | ۹.۲ | **٦.۲** | ۱.۰ | ۰.۹ | ۱.۲ | ۱.۰ |
| ټرانسپورټ | **٤.۷** | -۱.۲ | -۱.۴ | -۰.۵ | -۱.۰ | **٤.۳** | ۷.۰ | ۶.۴ | ۵.۳ | ۶.۲ |
| اړیکې | **۱.۱** | ۰.۶ | ۰.۴ | -۰.۴ | ۰.۲ | **۱.۷** | -۳.۳ | -۲.۸ | -۲.۳ | -۲.۸ |
| معلومات کلتور | **۰.۱** | ۳.۵ | ۳.۱ | ۱.۶ | ۲.۷ | **۱.۱** | -۳.۵ | -۳.۸ | -۵.۱ | -۴.۲ |
| زده کړه | **۰.۷** | ۱۳.۶ | ۱۵.۹ | ۲۳.۲ | ۱۷.۶ | **۰.٤** | ۵.۷ | ۳.۷ | ۰.۱ | ۳.۱ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | **۱.۰** | ۰.۴ | ۰.۹ | ۲.۰ | ۱.۱ | **۱.۱** | -۰.۲ | ۰.۲ | -۰.۳ | -۰.۱ |
| متفرقه | **۱.۸** | ۹.۵ | ۸.۵ | ۷.۴ | ۸.۵ | **۱.٤** | ۲.۵ | ۲.۷ | ۲.۸ | ۲.۷ |
| د مصرفي توکو د بیو شاخص (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو پرته) | | | | | | | | | | |
| ۳۰ سلنه د اوسط مونډلو میتود | | ۷.۸ | ۸.۳ | ۸.۰ | ۸.۰ | | ۵.۰ | ۴.۲ | ۳.۷ | ۴.۳ |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتنی بدلونونه

د انفلاسیون لنډمهاله درې میاشتنی سنجش د کلنی سنجش ورته بهیر ښکاره کوي. ملي عمومي انفلاسیون چې د ربعې په ربعې سنجش له مخې د تېرې ربعې د ۷.۲ سلنه زیاتوالی په پرتله د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۴.۵ سلنه لوړ شوی دی. د انفلاسیون د کموالي اصلي لامل د خوراکي توکو دیفلاسیوني بهیر په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې، د نا خوراکي توکو کټګورۍ هم د تېر کال د دریمې ربعې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ټیټ نرخ ثبت کړی دی.

د درې میاشتني سنجش پر بنسټ، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تېرې دورې ۰ ۱۰.۳ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۶.۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. د خوراکي توکو د بیو شاخصونه لکه د سبزیجاتو، غوړیو او شحمیاتو، تازه او وچې میوې، بورې او خوږو توکو او ترشي او اچارو بیو د پام وړ کموالی موندلی، خو د غوښې بیې بیا د تېرې ربعې په پرتله لږ څه زیاتې شوي دي. حال دا چې په دې کټګورۍ کې د درې میاشتني سنجش له مخې تر ټولو ډېر کموالی د ترشي او اچارو او بورې او خوږو توکو په بیو کې په ترتیب سره منفي ۳.۴ سلنه او ۰.۱ سلنه ثبت شوی دی.

له بلې خوا، د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ هم د تېرې ربعې له ۴.۳ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۲.۹ سلنې ته راټیټ شوی دی. خو په دې کټګورۍ کې تر ټولو ډېر کموالی ښوونې او روزنې او متفرقه توکو ثبت کړی دی. ښوونې او روزنې شاخص د تېرې ربعې له ۷.۰ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۳.۱ سلنې ته او همدا ډول متفرقه شاخص د تېرې ربعې له ۶.۳ څخه د ارزونې لاندې موده کې ۲.۷ سلنې ته راټیټ شوی دی. سربېره پر دې، د اړیکو شاخص د انفلاسیون نرخ د تېرې ربعې د منفي ۴.۰ سلنې په پرتله منفي ۲.۸ سلنه ثبت شوی دی.

**۲.۳ ګراف: د ملي عمومي انفلاسیون درې میاشتنی اوسط**




سرچینه: د احصائیې ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص بدلونونه

#### ۱.۲.۱.۳ کلنی بدلونونه

د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د تېر کال د دریمې ربعې د ۷.۴ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۴.۶ سلنې ته راښکته شوی دی.

خوراکي توکي چې د ټولیزه شاخص د عمومي وزن ۳۷.۲ سلنه جوړوي، د یو کال په موده کې دیفلاسیوني بهیر درلودلی دی. په دې کټګورۍ کې د دیفلاسیون عمده لاملونه د غوښې، بورې او خوږو توکو، تازه او وچې میوې، ترشي او اچارو او د غیر الکولي مشروباتو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۹.۳ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې په اوسط ډول ۷.۷ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ چې د ټولیزه شاخص

۶۲.۸ سلنه جوړوي، د تېر کال د دریمې ربعې د ۶.۰ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۲.۷ سلنې ته راښکته شوی چې اصلي لامل یې د پوښاک، فرنیچر او د کورنیو توکو، اړیکو، ریسټورانټونو او هوټلونو، معلوماتو او کلتور او د متفرقه توکو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. که څه هم په دې کټګورۍ کې د کور جوړونې او ټرانسپورټ انفلاسیون د تېر کال د دریمې ربعې د ۲.۹ او منفي ۱.۰ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې په ترتیب سره ۶.۳ سلنه او ۴.۶ سلنې ته زیات شوی دی.

له بلې خوا، اصلي انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د تېر کال د دریمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د اصلي انفلاسیون نرخ په اوسط ډول ۴.۵ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې د تېر کال په دریمه ربعه کې دا نرخ ۱۰.۲ سلنه ثبت شوی ؤ. همدا ډول، د اوسط موندلو میتود (۳۰٪) د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۸.۸ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۲.۶ سلنه انفلاسیون ثبت کړی دی.

### ۲.۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتني بدلونونه

د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ربعې په ربعې سنجش له مخې د کابل عمومي انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر درلوده چې د مصرفي توکو د بیو د شاخص په دواړو برخو خوراکي توکو او نا خوراکي توکو کې دیفلاسیون ښکاره کوي. د کابل عمومي انفلاسیون د تېرې ربعې د ۷.۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې په اوسط ډول ۴.۶ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د خوراکي توکو د شاخص انفلاسیون د تېرې ربعې له ۱۱.۸ سلنې څخه د ارزونې لاندې ربعه کې په اوسط ډول ۷.۷ سلنې ته راکم شوی دی. په دې کټګورۍ کې د غوښې، سبزیجاتو، تازه او وچې میوې، غوړیو، شحمیاتو، بورې او خوږو توکو بیې کمې شوې چې له امله یې دیفلاسیون رامنځته شوی دی. په دې کټګورۍ کې تر ټولو زیات کموالی د بورې او خوږو توکو د بیې په شاخص کې تر سترګو شوی چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۱۸.۶ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۰ سلنې ته راکم شوی دی. د دې ترڅنګ، د ډوډۍ او حبوباتو د شاخص انفلاسیون د درې میاشتني سنجش پر بنسټ زیاتوالی ښکاره کوي چې د تیر کال د دریمې ربعې د ۲.۵ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې کال په دریمه ربعه کې په اوسط ډول ۳.۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

همدا ډول، د مصرفي توکو د بیو د شاخص د نا خوراکي توکو کټګورۍ هم د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د دیفلاسیون په کموالي کې ونډه درلودلې ده. په دې کټګورۍ کې انفلاسیون اوسط نرخ ۲.۷ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴.۳ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د نا خوراکي توکو د انفلاسیون د کموالي عمده لامل د پوښاک، کور جوړونې، فرنیچر، ټرانسپورټ، ښوونې او روزنې او د متفرقه توکو ټیټې بیې ښودل شوي دي چې په دې ډله کې تر ټولو زیات کموالی د متفرقه توکو په انفلاسیون کې راغلی دی چې د تېرې ربعې له ۱۵.۸ سلنې څخه د ارزونې لاندې موده کې ۲.۰ سلنې ته راکم شوی دی.

د نا خوراکي توکو د شاخص د ډېرو توکو بیې د موسمي

بدلونونو له امله په ناوړه توګه زیانمنه شوي دي، په داسې حال کې چې د کور جوړوني او غوښې بيې د لوړې تقاضا له کبله راکمې شوي دي. د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د بیو د زیاتیدو او کمیدو ستر لاملونه د غازو او نفتو عرضه، د فارمونو پراختیا او د ګاونډیو هېوادونو سره ثابته سوداګري په ګوته شوي دي. سربېره پر دې، د کورنې توکو سالمه شرایط او د عرضې او تقاضا ترمنځ غوره انډول هم په ديفلاسيوني بهير کې ونډه درلودلې ده.

په دې کټګورۍ کې د اغېزو په پام کې نیولو سره، د افغانستان دولت په چټکۍ سره عملي ګام پورته کړ او د توکو د واردولو لپاره يې د بدیل لارې په توګه په ایران کې د چابهار بندر پرانیسته، او له تاجکستان، ازبکستان او قرغزستان سره يې هوکړه لیکونه لاسلیک کړه، څو په سوداګرۍ کې اسانتیاوې رامنځ ته کړي او د تولیزې عرضې له کمښت سره مبارزه وکړي. سربېره پر دې، د افغانستان حکومت د نړۍ د متحدو هېوادونو په همکارۍ سره هڅه کوي څو د کرنې او صنعتي سکتورونو د ښه والي له لارې پر وارداتو د اتکاء کچه راکمه کړي او کورني تولیدات او خدمتونه دود او زیات کړي.

په افغانستان کې انفلاسیون د کرنې، صنعت او خدمتونو سکتورونو د بدلونونو او په نړیوالو بازارونو کې د سوداګریزو توکو د بیو د زیاتېدو له امله تر اغېزې لاندې راځي. د نړیوال بانک د راپور له مخې، تمه کېږي چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۴ سلنه پلان شوي لوړوالي وروسته د انرژۍ بیې په ۲۰۱۸ کال کې ۴ سلنه زیاتې شي. په ورته وخت کې د غیر انرژۍ بیې وړاندې وینه په ۲۰۱۸ کال کې ۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د ۲۰۱۷ کال له وړاندې وینې څخه ډېر لږ زیاتوالی په ګوته کوي.

په افغانستان کې کېدای شي د انفلاسیون لنډمهاله لیدلوری ثابته پاتې شي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ مالي کال د څلورمې ربعې لپاره د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د ۳ او ۴ سلنې ترمنځ اټکل کړی دی.

**۳.۳ ګراف: د کابل د انفلاسیون اوسط نرخ، ۲۰۰۸ دریمه ربعه – ۲۰۱۷ دریمه ربعه**




**۴.۳ ګراف: د اوسط موندلو میتود**



**۵.۳ ګراف: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۶ سپټمبر – ۲۰۱۷ سپټمبر**




سرچینه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

| دوره | وزن | ۲۰۱۶<br>د ۲۰۱۱ د مارچ پر بنسټ | | | | وزن | ۲۰۱۷<br>د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د ۲۰۱۶ جولای | د ۲۰۱۶ اګست | د ۲۰۱۶ سپتمبر | د ۲۰۱۶ دریمه ربعه | | د ۲۰۱۷ جولای | د ۲۰۱۷ اګست | د ۲۰۱۷ سپتمبر | د ۲۰۱۷ دریمه ربعه |
| توليز شاخص | ۱۰۰ | ۸.۰ | ۷.۸ | ۶.۳ | ۷.۴ | **۱۰۰.۰** | ۵.۱ | ۴.۸ | ۳.۹ | ۴.۶ |
| خوراکي توکي او غير الکولي مشروبات | **۵۲.۰** | ۹.۲ | ۹.۸ | ۸.۹ | ۹.۳ | **۳۷.۲** | ۹.۲ | ۷.۵ | ۶.۴ | ۷.۷ |
| ډوډۍ او حبوبات | **۱۷.۷** | ۲.۳ | ۰.۵ | -۲.۹ | ۰.۰ | **۹.۸** | ۳.۶ | ۴.۵ | ۲.۴ | ۳.۵ |
| غوښه | **۷.۲** | ۱۶.۱ | ۱۹.۳ | ۱۶.۶ | ۱۷.۳ | **٦.٤** | ۱۰.۹ | ۶.۳ | ۷.۱ | ۸.۱ |
| شيدې، پنير او هګۍ | **٤.٨** | ۵.۲ | ۴.۸ | ۳.۱ | ۴.۴ | **۳.۲** | ۰.۵ | -۰.۱ | ۱.۱ | ۰.۵ |
| غوړي او شحميات | **٤.٠** | ۱.۱ | -۰.۳ | ۴.۷ | ۱.۸ | **۳.٦** | ۱۳.۷ | ۱۴.۸ | ۴.۷ | ۱۱.۱ |
| تازه او وچه ميوه | **٤.٨** | ۱۱.۵ | ۶.۳ | ۱۳.۷ | ۱۰.۵ | **٥.۲** | ۵.۶ | ۹.۴ | ۸.۷ | ۷.۹ |
| سبزیجات | **۷.۹** | ۶.۳ | ۱۴.۸ | ۱۴.۸ | ۱۲.۰ | **٤.۲** | ۳۱.۹ | ۲۲.۷ | ۲۶.۹ | ۲۷.۱ |
| بوره او خواږه توکي | **۲.۹** | ۴۲.۴ | ۴۹.۱ | ۴۰.۴ | ۴۴.۰ | **۲.۸** | ۱۰.۳ | ۴.۸ | ۲.۹ | ۶.۰ |
| اچار، ترشي او... | **۰.۹** | ۳۵.۴ | ۳۶.۱ | ۳۳.۳ | ۳۴.۹ | **۱.۰** | -۱.۷ | -۶.۷ | -۹.۵ | -۶.۰ |
| غير الکولي مشروبات | **۱.۸** | ۱۲.۷ | ۱۴.۶ | ۱۲.۰ | ۱۳.۱ | **۰.۹** | ۰.۵ | -۲.۱ | -۳.۳ | -۱.۶ |
| غير خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | **٤٨.٠** | ۷.۲ | ۶.۳ | ۴.۵ | ۶.۰ | **٦٢.٨** | ۲.۶ | ۳.۲ | ۲.۳ | ۲.۷ |
| تنباکو | **۰.٤** | ۱۳.۹ | ۱۱.۲ | ۹.۱ | ۱۱.۴ | **۰.۳** | ۱۵.۵ | ۱۵.۷ | ۱۱.۳ | ۱۴.۲ |
| پوښاک | **۷.۰** | ۱۵.۵ | ۱۲.۸ | ۱۱.۴ | ۱۳.۲ | **٤.٨** | -۰.۷ | ۲.۲ | -۱.۳ | ۰.۱ |
| کور جوړونه | **۲۰.۷** | ۴.۲ | ۳.۶ | ۱.۰ | ۲.۹ | **۲۳.٥** | ۵.۹ | ۷.۲ | ۵.۸ | ۶.۳ |
| فرنيچر او کورني توکي | **۷.۰** | ۱۴.۶ | ۱۳.۶ | ۹.۹ | ۱۲.۷ | **۱۷.٦** | ۲.۳ | ۱.۹ | ۱.۵ | ۱.۹ |
| روغتيا | **۳.۳** | ۲.۹ | ۲.۶ | ۱.۴ | ۲.۳ | **٥.۳** | -۳.۳ | -۲.۵ | -۰.۷ | -۲.۲ |
| ترانسپورټ | **٤.۷** | -۰.۹ | -۱.۶ | -۰.۵ | -۱.۰ | **٤.٦** | ۵.۰ | ۴.۶ | ۴.۲ | ۴.۶ |
| اړيکي | **۱.۱** | ۰.۵ | ۰.۳ | ۰.۱ | ۰.۳ | **۲.۰** | -۴.۴ | -۴.۲ | -۴.۳ | -۴.۳ |
| معلومات او کلتور | **۰.۱** | ۱۶.۵ | ۱۹.۶ | ۲۹.۷ | ۲۱.۹ | **۱.۷** | -۵.۹ | -۶.۰ | -۸.۱ | -۶.۷ |
| زده کړه | **۰.۷** | ۴.۹ | ۴.۷ | ۱.۹ | ۳.۸ | **۰.۷** | ۸.۰ | ۵.۴ | ۰.۴ | ۴.۶ |
| ريستورانتونه او هوټلونه | **۱.۰** | ۰.۴ | ۱.۶ | ۰.۸ | ۰.۹ | **۱.۰** | -۳.۳ | -۵.۳ | -۵.۰ | -۴.۵ |
| متفرقه | **۱.۸** | ۱۷.۳ | ۱۵.۳ | ۱۴.۹ | ۱۵.۸ | **۱.۳** | ۲.۴ | ۱.۹ | ۱.۶ | ۲.۰ |
| د مصرفي توکو د بيو شاخص، پرته له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمياتو او تنباکو څخه | | | | | | | | | | |
| ۳۰٪ د اوسط مونډلو ميتود | | | | | | | | | | |

۲.۳ جدول: د کابل د عمومي انفلاسيون د اجزاوو ويشنه، د ۱۳۹۶ مالي کال دريمه ربعه

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

# ۴

## د بهرني سکتور بدلونونه

# ۴
# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د هېواد په اقتصاد کې د بهرني سکتور مهم بدلونونه او د تیر کال له درېمې ربعې سره د هغه پرتله رانغاړي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې د بهرني سکتور کړنې د جاري حساب په کسر کې د زیاتوالي او د پانګې په بهیدنه کې د کموالي له امله کمزوره شوي دي. د ۱۳۹۶ مالي کال د درېمه ربعې په اوږدو کې د عوایدو اصلي حساب ته د بهیدنو د کمیدو او د سوداګرۍ د کسر د زیاتیدو اصلي لامل د جاري حساب د کسر زیاتوالی په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې د اداینو بیلانس د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې تر ټولو لوړ کسر (۸۴۹.۳۹ میلیونه امریکایي ډالره) ثبت کړی دی چې د اداینو په بیلانس کې د کسر د زیاتیدو اصلي لاملونه د جاري حساب د کسر زیاتوالی، د پانګې د بهیدنو (پانګه ایزو لیږدونو) او هېواد ته د بهرنی مستقیمو پانګونو په پایله کې مالي حساب ته د بهیدونو کموالی ګڼل کیږي.

**۱.۴ د اداینو بیلانس**

۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس

شته شمېرې ښکاره کوي چې د اداینو د بیلانس د جاري حساب کسر د ۱۳۹۶ مالي کال په درېمه ربعه کې ۹۶۶.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې د ۹۱۶.۱۷ میلیونه امریکایي ډالره کسر په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. (د زیاتو معلوماتو لپاره د ۴.۱ جدول او ۴.۱ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اږدو کې د جاري حساب په کسر کې د زیاتیدو اصلي لاملونه د توکو د وارداتو زیاتوالی، د داخلي او بهرنیو کارکوونکو د اجورو د کموالي، د پانګونې د عوایدو د کموالي او د خدمتونو په حساب کې د ادainو د زیاتوالي په پایله کې د لومړنیو عوایدو حساب ته بهیدنې راکمې شوي دي.

دواړه ټولیزه صادرات او واردات د ۱۳۹۶ مالي کال د درېمې ربعې په اوږدو کې ۲۵۵.۵۳ او ۱،۵۱۷.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د ورته ربعې د ۱۷۲.۵۰ او ۱،۳۹۳.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله په ترتیب سره ۴۸ او ۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، د خدمتونه د حساب کسر د ۷۰ سلنه زیاتوالی په درلودلو سره د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۲۹.۱۷ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د خدمتونو حساب د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۹۳.۲۴ میلیونه امریکایی ډالره کسر درلوده. د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د خدمتونو حساب د کسر د زیاتیدو اصلي لامل د ټرانسپورتي خدمتونو په پایله کې د اداینو ۳۹ سلنه زیاتوالی په ګوته شوی دی.

همدا ډول د عوایدو د حساب ډېریدنه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې۸.۹۲ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۷.۵۰ میلیون امریکایي ډالرو په پرتله ۴۹ سلنه کموالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې د جاري لیږدونو ډېریدنه چې په زیاته اندازه بسپنې او له بهرنیو هېوادونو څخه د کارګرانو د کورني شخصي معاشونو ورکړې رانغاړي د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۱۵.۰۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴۸۰.۴۸ میلیونه ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د ادایتو د بیلانس پانګه ایزه حساب د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲ سلنه لږ څه کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې هېواد ته د پانګې کمه لیږدونه ګڼل کیږي.

د پانګه ایز حساب خالصه جریانونه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۳۷۵.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۶۸.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي چې د دې کمیدو اصلي لامل د دولت، شرکتونو او کورنیو لخوا د خالصه پانګې په لیږدونه کې کموالی په ګوته شوی دی.

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د ادایتو د بیلانس (BOP) د مالي حساب تر ټولو مهمه برخه بهرني پانګونې جوړوي چې دا پانګونې بهرنۍ مستقیمې پانګونې، د بهرنۍ پورټوفولیو پانګونې او نورې پانګونې رانغاړي.

هېواد ته د بهرنیو مستقیمو پانګونو خالصه بهیدنې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۶.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۳.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. (د لا زیات وضاحت لپاره ۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

په ورته وخت کې د پورټوفولیو خالصه پانګونې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۰.۳۳ میلیونه بهر بهیدنو په پرتله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۱.۷۷ میلیونه امریکایي ډالره بهر بهیدنې ښکاره کوي.

ټولیزه خالصه بهرنۍ پانګونو (ټولیزه خالصه بهر بهیدنو) د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې لږ بدلون موندلی دی چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له منفي ۳ میلیونه څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیاتوالی لري.

بهرني سوداګریز پورونه (ECBs) د مالي حساب یوه بله برخه جوړوي او د بهرنۍ پانګونې په پرتله یې نسبتاً بې ثباتي زیاته ده. خالصه بهرني سوداګریز پورونه (ECBs) د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵.۱۲ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې دا پورونه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۰.۷۱ سلنې ته رسیده.

د مالي حساب بیلانس په ټولیزه توګه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۵۱.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۸۲.۶ میلیون امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. (د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۴ جدول او ۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ)

۲.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو داخلي جریانونه (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۳.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۱.۴ د توکو سوداګري (مال التجاره)

د بولټن دا برخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانستان د توکو د سوداګرۍ د کړنو شننه او د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له سوداګریزو کړنو سره د هغه پرتله وړاندې کوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې د هېواد په کچه د توکو په ټولیزه صادراتو او وارداتو کې ربعه په ربعه زیاتوالی ثبت شوی دی.

د توکو د ټولیزه کورنیو صادراتو کچه په ټولیزه توګه ۴۶ سلنه او د توکو د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د ورته ربعې په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له همدې امله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې یې ۱،۴۶۹.۵۷ میلیونه امریکایي ډالره یا ۱۵ سلنه سوداګریز کسر ثبت کړی دی.

**د عمده توکو شننه:**

د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ځینو عمده توکو د ټولیزه صادراتو کچه زیاته شوې ده، په ځانګړې توګه د خوراکي توکو (نباتي غوړیو، تازه او وچو میوو کچه) ۱۳۶ سلنه یا ۱۵۴.۱۱ میلیونه امریکایي ډالره، د غالیو او ټغرونو کچه ۴۳ سلنه یا 6.56 میلیونه امریکایي ډالره او د طبي بذرونه کچه ۱۷ سلنه یا 87.66 میلیونه امریکایي ډالره زیاته شوې ده.

همدا ډول د خرمنو او وړیو د ټولیزه صادراتو کچې منفي ۸۹ سلنه یا ۳.۰۵ میلیونه امریکایي ډالره کموالی ثبت کړی دی.

د ورته دورې د پرتلې له مخې د ډېرو عمده توکو په وارداتو په ځانګړې توګه د (مصرفي توکو) په وارداتو کې ۶۵ سلنه یا ۶۸۱.۶۶ میلیونه امریکایي ډالره، د (صنعتي توکو) په وارداتو کې ۳۹ سلنه یا ۲۳۵.۱۳ میلیونه امریکایي ډالره او د (نفتو او شحمیاتو) په وارداتو کې ۵ سلنه یا ۲۲۵.۳۳ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی راغلی دی. حال دا چې د (پانګه ایزو توکو) د وارداتو په کچه کې ۵۷۸.۸۳ میلیونه امریکایي ډالره یا ۱۲ سلنه کموالی ثبت شوی دی.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په ۲.۴ جدول کې د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې د توکو د بهرنۍ سوداګرۍ د احصائیې د شننې ملپاڼې ته مراجعه وکړئ.

۴.۴ ګراف: د شتمنیو زیرمې، د ۱۳۹۵ کال لومړۍ ربعه ــ د ۱۳۹۶ کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ د سوداګرۍ لوری

د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ لوری له هېواد څخه بېلابېلو هېوادونو ته د صادراتو او له بېلابېلو هېوادونو څخه هېواد ته د وارداتو د تناسب له مخې مطالعه کېږي. د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ د لوري مطالعه، د هېواد لوی سوداګریز شریکان پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو کټو خپلواکه هېوادونه (CIS) رانغاړي.

### ۱.۲.۴ د صادراتو لوری

د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې **پاکستان د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی پیریدونکی هېواد دی.** پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادارتو ونډه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۶۴.۱۳ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵۱.۶۲ سلنې ته راکمه شوې ده. د یادولو وړ دی چې هند ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۲۹.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۱۰.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

**هند، د افغانستان د صادراتو دویم ستر پیریدونکی هېواد دی.** هند ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۲۸.۲۷ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۳.۶۷ سلنې ته زیاته شوې ده. هند ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۸۴.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۸.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷۴ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

**د افغانستان د صادراتو دوه نور ستر پیریدونکي ایران او د ګډو کټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.** ایران ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۹۸ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. ایران ته د افغانستان د صادرات کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له شاوخوا ۱ سلنې څخه ۲.۷۸ سلنې ته لږ څه زیاتوالی موندلی دی. همدا ډول د ګډو کټو خپلواکه هېوادونو ته د افغانستان د ټولیزه صارداتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۵۸ سلنه کموالی په ګوته کوي. د ګډو کټو خپلواکه هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۱ سلنه ثبت شوې کچې څخه د ارزونې لاندې موده کې شاوخوا ۲.۴۶ سلنې ته زیاته شوې ده.

**۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۲.۴ د وارداتو لوری**

**د ګڼو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانستان لپاره د وارداتو تر ټولو ستره سرچینه وه.** افغانستان ته د ګڼو ګټو د خپلواکه هېوادونو (CIS) ټولیزه واردات د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۲۷.۸۶ سلنې ونډې په درلودلو سره ۴۷۹.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۲.۰۵ سلنې ونډې او ۳۲۰.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې له ګڼو ګټو خپلواکه هېوادونو څخه مهم وارداتي توکي اوړه او غنم، پترولیم او بریښنا او نباتي غوړي ګڼل کیږي چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۱۰ سلنه، ۸ سلنه او ۲ سلنه جوړوي.

**ایران د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې افغانستان لپاره دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.**
له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۱۶.۵۳ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۸۴.۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۸.۲۸ سلنې ونډې په درلودلو سره د ۲۶۵.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له ایران څخه مهم وارداتي توکي؛ پترولیم (تیل)، صنعتي مواد لکه ( اوسپنیز تولیدات، سره یا پارو، کیمیاوي مواد او سمنټ) او مصرفي توکي ګڼل کیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۶، ۴ او ۲ سلنه جوړوي.

**چین د افغانستان لپاره د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د وارداتو دریمه ستره سرچینه ده.** له چین څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو ونډه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۱۶.۳۹ سلنې ونډې په لرلو سره ۲۸۲.۰۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۳۳۵.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو او ۲۳.۰۴ سلنې ونډې پرتله ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. مصرفي توکي او پانګه ایزه توکي (پرزې) افغانستان ته د چین مهم وارداتي توکي دي چې د ټولیزه وارداتو په ترتیب سره ۷ او ۳ سلنه جوړوي.

**پاکستان د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د افغانستان څلورم ستر وارداتي هېواد دی.** له پاکستان څخه افغانستان ته ټولیزه واردات د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۱۵.۵۷ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۲۵.۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو او ۱۵.۴۸ سلنې ونډې په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. مصرفي توکي، صنعتي مواد، پانګه ایزه توکي او پترولیم افغانستان ته د پاکستان عمده وارداتي توکي دي.

هندوستان او جاپان د افغانستان لپاره پنځم او شپږم ستر وارداتي هېوادونه دي. په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو ونډې په ترتیب سره ۳.۴۵ او ۲.۷۲ سلنې ته رسیږي. په همدې ترتیب د هندوستان ټولیزه واردات د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵۹.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۳۲.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. منسوجات، پرزې، درمل، پوښاک، ټیرونه او ټیوبونه، کیمیاوي مواد او چای د هندوستان ستر وارداتي توکي ګڼل کیږي.

همدا ډول افغانستان ته د جاپان د وارداتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴۶.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۶۳.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه کموالی په ګوته کوي چې اصلي لامل یې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د پانګه ایزو توکو او مصرفي توکو د وارداتو زیاتوالی ګڼل کیږي.

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه) د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب

د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې د مصرفي توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره برخه لري. د مصرفي توکو ونډه له ۲۸.۴ سلنې څخه ۳۹.۶ سلنې ته لوړه شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د مصرفي توکو د وارداتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې۶۸۱.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۱۳.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۵ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.
- د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه لویه ونډه پانګه ایزو توکو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۵.۲ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۳.۶ سلنې ته راکمه شوې ده. همدا ډول د ارزښت له پلوه، په ټولیزه وارداتو کې د دې توکو واردات د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵۷۸.۸۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۶۵۷.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۲ سلنه کموالی په ګوته کوي.
- د صنعتي موادو واردات د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه لویه ونډه جوړوي. د صنعتي موادو کچه د تیر کال د دریمې ربعې له ۱۱.۷ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۳.۷ سلنې ته زیاته شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د صنعتي موادو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۳۵.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۶۹.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- همدا ډول د ارزونې لاندې ربعه کې د نفتي موادو او شحمیاتو کچه چې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لږه ونډه لري. په ټولیزه وارداتو کې د نفتو او روغنیاتو ونډه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۱۴.۷ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۳.۱ سلنې ته راکمه شوې ده. د ارزښت له پلوه د نفتو او

روغنیاتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۲۵.۳۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۱۳.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د یادولو وړ ده چې په هېواد کې د پراختیایي پروژو د پلې کېدو له امله صنعتي موادو لکه سمنټو، کیمیاوي موادو، سرې(پارو) او فلزي تولیداتو ته تقاضا زیاته شوې ده چې افغانستان له نورو هېوادونو څخه دا مواد د اقتصادي پرمختګ او دوامداره اقتصادي ودې په موخه واردوي.

۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)
۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)
۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب

د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- خوراکي توکي (تیلي بذرونه، تازه او وچې میوې) د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره برخه درلوده. په ټولیزه صادراتو کې د خوراکي توکو ونډه د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۳۸ سلنه څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۶۱ سلنې ته زیاته شوې ده. د ارزښت له پلوه، په ټولیزه صادراتو کې د خوراکي توکو د صادراتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۵۴.۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۵.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۳۶ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.
- د هېواد په ټولیزه صادراتو کې دویمه لویه برخه طبي بذرونو ثبت کړې ده چې کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۴۳ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۴.۹ سلنې ته راکمه شوې ده. د ارزښت له مخې په ټولیزه صادراتو کې د طبي بذرونو د صادراتو کچه د ارزونې لاندې ربعه کې ۸۷.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۷۴.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- همدا ډول د هېواد د صادراتو په ټوکرۍ دریمه ستره ونډه غالیو او ټغرونو ثبت کړې ده. په ټولیزه صادراتو کې د غالیو او ټغرونو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې (۳ سلنه) ثابته پاتې ده، خو د ارزښت له مخې، د غالیو او ټغرونو د صادراتو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۵۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۴.۵۹ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۴۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- همدا ډول ځرمن او وړۍ چې په ټولیزه صادراتو کې یې تر

ټولو لړه ونډه درلوده، کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۱۶ سلنې څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱.۲ سلنې ته د پام وړ راکمه شوې ده. د ارزښت له پلوه د دې توکي صادرات د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳.۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۷.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸۹ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)
۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)
۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۴ بهرنۍ پورواینې

د افغانستان ټولیزه بهرنۍ پورواینې (بدهي) د ۱۳۹۶ مالي په دریمه ربعه کې ۲،۱۸۵.۸۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲،۱۴۷.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ټولیزه بهرنیو پوراینو د ټیټوالي عمده لاملونه د بهرنۍ سوداګرۍ د پور اخیستنو، د لنډ مهاله او اوږد مهاله پوراینو او د نامیشته افغانانو د امانتونو کموالی ګڼل کیږي.

افغانستان د ارزونې لاندې موده کې د آسیا پراختیایي بانک، اسلامي پراختیایي بانک، اوپیک صندوق او د پیسو د نړیوال صندوق ( IMF) ته د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه کړې ده. حال دا چې نړیوال بانک، د آسیا پراختیایي بانک او اسلامي پراختیایي بانک ته د خدمتونو لګښتونه هم تادیه شوي دي.

په ورته وخت کې افغانستان ته یوازې د ستر څو اړخیزه پور ورکونکي په توګه نړیوال بانک او د آسیا پراختیایي بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ځینې اصلي پورونه او د خدمتونو لګښتونه بخښلي دي.

سربېره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه د پراختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۰۵.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۸۷.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د پاریس کلب پور ورکوونکو ته د ټولیزه ورکول کیدونکو پورونو کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۹۰۱.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې باید د روسیې فدراسیون ته ورکړل شي.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو پور ورکوونکو د پوراینې کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱،۱۷۹.۰۷میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۱۷۷.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د څو اړخیزو کریډېټونو په ټولیزه پوراینو کې ۱.۳۵ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی راغلی دی.

۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پورواينې پرتله؛ د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه او د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه (په میلیون ډالر)




سرچینه: د افغانستان بانک د شتمنیو د مدیریت څانګه، د مالیې وزارت

### ۵.۴ خالصه نړیواله زېرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۷،۲۴۶.۳۹ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶،۸۱۴.۰۱ میلیونه امریکايي ډالره ثبت شوي کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زېرمو (NIR) د کچې د زیاتیدو عمده لامل د شتمنیو د زېرمو زیاتوالی په ګوته شوی چې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې یې کچه ۷،۹۹۴.۸۱ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمي ربعې د ۷،۴۹۸.۸۴ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د پوراينې د زېرمو کچه ۷۴۸.۴۲ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمي ربعې د ۶۸۴.۸۳ میلیونه امریکايي ډالره ثبت شوي کچې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي، د پورته شمېرو له مخې د شتمنیو د زیرمو په پرتله د پوراينې د زېرمو کچه لوړه ده. د پوراینو زېرمو د کچې د زیاتیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي چې کچه یې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۸۸.۴۹ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶۱۱.۷۹ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له تمویلي سرچینو څخه د ګټې اخیستنې کچه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵۹.۸۰ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمي ربعې د ۷۲.۹۰ میلیونه ډالرو په پرتله ۱۸ سلنه کموالی لري.

په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو امانتونو د پوراینې د زېرمې کچه د ارزونې لاندې موده کې تقریباً ثابته پاتې ده.

د افغانستان د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی وضعیت د پولي سیاست لپاره ښه ابزار او د ادواینو د بیلانس ښه ملاتړ ګڼل کیږي.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په منځني ډول د شاوخوا ۲۵ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال کې، هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه برخمنه کیږي.

۶.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمي ربعې راپدېخوا د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې (NIR) وړاندې کوي.

۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیواله زېرمې، د ۱۳۹۵ کال دریمه ربعه - د ۱۳۹۶ کال دریمه ربعه (په میلیون ډالر)




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

۱.۴ جدول: د افغانستان د ادائینو بیلانس ( په میلیون امریکایي ډالر)

| اقلام/ کلونه | ۱۳۹۵ لومړی ربعه | ۱۳۹۵ دویمه ربعه | ۱۳۹۵ دریمه ربعه | ۱۳۹۵ څلورمه ربعه | ۱۳۹۶ لومړی ربعه | ۱۳۹۶ دویمه ربعه | ۱۳۹۶ دریمه ربعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -١١١٤.٢٩ | - ٦٠٧.٨٢ | - ٩١٦.١٧ | - ١٠٦٦.٨٣ | - ١٢١٨.٥٨ | -١٥٤٦.٥٢ | - ٩٦٦.٧٤ |
| کریډیټ | ٨٦٧.٩٧ | ١١٧٧.٢٦ | ٨١١.٢٩ | ١٠٩٥.٣٨ | ٦٤٩.٨٨ | ٧٠٠.٩٤ | ٩٨٤.٣٥ |
| ډبیټ | ١٩٨٢.٢٧ | ١٧٨٥.٠٨ | ١٧٢٧.٤٦ | ٢١٦٢.٢١ | ١٨٦٨.٤٥ | ٢٢٤٧.٤٦ | ١٩٥١.٠٩ |
| د توکو او خدمتونو حساب | -١٦٦٨.٦٩ | - ١٤٥٨.٢٥ | - ١٤١٤.١٥ | - ١٧٩٠.٢٧ | - ١٦٠٥.٦٨ | -١٩٨٠.٩٧ | - ١٥٩٠.٧٣ |
| کریډیټ | ٢٦٢.٣٥ | ٢٥٠.٩٤ | ٢٨٩.٤٧ | ٣٣٢.٤٨ | ٢١٣.٧٧ | ٢٣١.٩٨ | ٣٣٠.٠٢ |
| ډبیټ | ١٩٣١.٠٣ | ١٧٠٩.١٩ | ١٧٠٣.٦٢ | ٢١٢٢.٧٥ | ١٨١٩.٤٥ | ٢٢١٢.٩٥ | ١٩٢٠.٧٥ |
| د توکو حساب | -١٤٨١.٢٠ | -١٢٨٦.٢٧ | -١٢٢٠.٩١ | -١٥٥٢.١٨ | -١٣٩٥.٩٦ | -١٦٦٨.٢٤ | -١٢٦١.٥٦ |
| کریډیټ | ١٣٣.٩٤ | ١١٦.٩٩ | ١٧٢.٥٠ | ١٩٥.٧١ | ١١٧.١٣ | ١٢٥.٨٧ | ٢٥٥.٥٣ |
| ډبیټ | ١٦١٥.١٣ | ١٤٠٣.٢٥ | ١٣٩٣.٤١ | ١٧٤٧.٨٩ | ١٥١٣.٠٩ | ١٧٩٤.١١ | ١٥١٧.٠٩ |
| د خدمتونو حساب | - ١٨٧.٤٩ | - ١٧١.٩٨ | - ١٩٣.٢٤ | - ٢٣٨.٠٩ | - ٢٠٩.٧٢ | - ٣١٢.٧٣ | - ٣٢٩.١٧ |
| کریډیټ | ١٢٨.٤١ | ١٣٣.٩٥ | ١١٦.٩٦ | ١٣٦.٧٧ | ٩٦.٦٥ | ١٠٦.١٠ | ٧٤.٤٩ |
| ډبیټ | ٣١٥.٩٠ | ٣٠٥.٩٣ | ٣١٠.٢٠ | ٣٧٤.٨٦ | ٣٠٦.٣٦ | ٤١٨.٨٤ | ٤٠٣.٦٦ |
| د عوایدو لومړنی حساب | - ٦.٨٢ | ٢٠.٥٤ | ١٧.٥٠ | ٢٠.٤٩ | ١٤.٤٥ | ٣٣.٣٣ | ٨.٩٢ |
| کریډیټ | ١٤.٠٨ | ٣٧.٧٤ | ٢٨.٧٥ | ٤١.٨٦ | ٢٩.٤١ | ٤٥.٦٠ | ٢٠.٧٨ |
| ډبیټ | ٢٠.٨٩ | ١٧.٢٠ | ١١.٢٥ | ٢١.٣٧ | ١٤.٩٦ | ١٢.٢٧ | ١١.٨٦ |
| د عوایدو ثانوي حساب | ٥٦١.٢١ | ٨٢٩.٨٩ | ٤٨٠.٤٨ | ٧٠٢.٩٥ | ٣٧٢.٦٥ | ٤٠١.١٢ | ٦١٥.٠٧ |
| کریډیټ | ٥٩١.٥٥ | ٨٨٨.٥٨ | ٤٩٣.٠٧ | ٧٢١.٠٤ | ٤٠٦.٦٩ | ٤٢٣.٣٧ | ٦٣٣.٥٤ |
| ډبیټ | ٣٠.٣٤ | ٥٨.٧٠ | ١٢.٥٩ | ١٨.٠٩ | ٣٤.٠٤ | ٢٢.٢٥ | ١٨.٤٧ |
| پانګه ایز او مالي حسابونه | ٢٣٨.٥٦ | ٢٢٣.٧٣ | ٢٩٢.٥٨ | ٧١٢.٨٨ | ١٩.٥٤ | ٢٧٤.٠٦ | ٦١٩.٦٢ |
| پانګه ایز حساب | ٣٠٩.٨٥ | ٣٨٨.١٠ | ٣٧٥.٢٣ | ٥٢٥.٠٤ | ٢٥.١٤ | ٢٤٨.٥٨ | ٣٦٨.٤٨ |
| کریډیټ | ٣١٢.٧٦ | ٣٩٠.٩٥ | ٣٧٥.٢٣ | ٥٢٦.٩٦ | ٢٥.١٤ | ٢٤٩.٥٥ | ٣٦٨.٤٨ |
| ډبیټ | ٢.٩١ | ٢.٨٥ | ٠.٠٠ | ١.٩٢ | ٠.٠٠ | ٠.٩٧ | ٠.٠٠ |
| پانګه ایزې لیږدونې | ٣١٢.٧٦ | ٣٩٠.٩٥ | ٣٧٥.٢٣ | ٥٢٦.٩٦ | ٢٥.١٤ | ٢٤٩.٥٥ | ٣٦٨.٤٨ |
| کریډیټ | ٣١٢.٧٦ | ٣٩٠.٩٥ | ٣٧٥.٢٣ | ٥٢٦.٩٦ | ٢٥.١٤ | ٢٤٩.٥٥ | ٣٦٨.٤٨ |
| ډبیټ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ |
| مالي حساب | ٧١.٣ | ١٦٤.٤ | ٨٢.٦ | ١٨٧.٨٤ | ٥.٦٠ | - ٢٥.٤٨ | ٢٥١.١٣ |
| مستقیمه پانګونه | - ١٧.٧٤ | -٢١.٥٤ | -٢٣.٥٣ | -٣٦.٨١ | -١٧.١٢ | - ٢٢.٧٩ | - ١٦.٩٢ |
| د مالي شتمنیو خالصه کارونې | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ١٧.٧٤ | ٢١.٥٤ | ٢٣.٥٣ | ٣٦.٨١ | ١٧.١٢ | ٢٢.٧٩ | ١٦.٩٢ |
| د پورتوفولیو پانګونې | ١٨.٤٧ | ٣٩.١٥ | ٢٠.٣٣ | ١٢.٩٠ | ٣٢.٦١ | - ٢٩.٥٥ | - ١١.٧٧ |
| د مالي شتمنیو خالصه کارونې | ١٨.٤٧ | ٣٩.١٥ | ٢٠.٣٣ | ١٢.٩٠ | ٣٢.٦١ | - ٢٩.٥٥ | - ١١.٧٧ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ | ٠.٠٠ |
| نورې پانګونې | ٧٧.٥٩ | -٦٦.١٩ | ٢٧.٢٦ | -٢٤.٦٣ | - ٩.٢٣ | ٢٥.٣٥ | -١٠٦.٨٤ |
| شتمنی | ٨٣.٠٨ | - ٧٦.٤٣ | ٩.٩٣ | -١.٨٢ | ٣٥.٨٤ | ٥.١٢ | - ٩٦.٢٠ |
| پوراینې | ٥.٤٩ | - ١٠.٢٤ | - ١٧.٣٣ | ٢٢.٨١ | ٤٥.٠٧ | - ٢٠.٢٣ | ١٠.٦٤ |
| د شتمنیو زېرمې | -٧.٠٤ | ٢١٢.٩٣ | ٥٨.٥٩ | ٢٣٦.٣٧ | -٠.٦٥ | ١.٥٠ | ٣٨٦.٦٦ |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | ٨٧٥.٧٣ | ٣٨٤.٠٨ | ٦٢٣.٥٨ | ٧٢٩.٦٢ | ١١٩٩.٠٣ | ١٢٧٢.٤٦ | ٨٤٩.٣٩ |
| ټولیزه بیلانس | | | | | | | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ جدول: د توکو سوداګري ( په میلیون امریکایي ډالر)

| | د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه | | د ۱۳۹۵ مالي کال څلورمه ربعه | | د ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه | | د ۱۳۹۶ مالي کال دویمه ربعه | | د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) | ټولیزه | ونډه (سلنه) |
| **واردات** | **۱,٤٥٤.١٧** | ۱۰۰٪ | **۱,٨٤٤.٤٥** | ۱۰۰٪ | **۱,٥۰٨.٦٦** | ۱۰۰٪ | **۲,۰۸۹.۹۱** | ۱۰۰٪ | **۱,۷۲۰.۹۵** | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | **١٦٩.٦٦** | ۱۱.۷٪ | ۹۶.۲۴ | ۵.۲٪ | ۱۵۳.۲۴ | **۱۰.۲٪** | ۲۴۱.۵۰ | ۱۱.۶٪ | ۲۳۵.۱۳ | **۱۳.۷٪** |
| تیل او روغنیات | **۲۱۳.۸۵** | ۱۴.۷٪ | ۳۰۵.۷۲ | ۱۶.۶٪ | ۲۰۲.۰۵ | **۱۳.٤٪** | ۲۰۷.۶۲ | ۹.۹٪ | ۲۲۵.۳۳ | **۱۳.۱٪** |
| مصرفي توکي | **٤۱۳.۲۷** | ۲۸.۴٪ | ۵۸۱.۵۰ | ۳۱.۵٪ | ۵۵۳.۷۷ | **۳٦.۷٪** | ۷۶۰.۸۷ | ۳۶.۴٪ | ۶۸۱.۶۶ | **۳۹.٦٪** |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | **٦٥۷.۳۹** | ۴۵.۲٪ | ۸۶۰.۹۹ | ۴۶.۷٪ | ۶۰۰ | **۳۹.۷٪** | ۸۷۹.۹۲ | ۴۲.۱٪ | ۵۷۸.۸۳ | **۳۳.٦٪** |
| **صادرات** | **۱۷۲.٤٥** | ۱۰۰٪ | **۱۹٤.۷۷** | ۱۰۰.۰٪ | **۱۱٥.۰٤** | ۱۰۰٪ | **۱۲٤.۱۷** | ۱۰۰٪ | **۲٥۱.۳۸** | ۱۰۰٪ |
| غالۍ او ټغرونه | **٤.٥۹** | ۳٪ | ۴.۶۵ | ۲.۴٪ | ۷.۰ | **٦.۱٪** | ۴.۷۷ | ۳.۸٪ | ۶.۵۶ | **۳٪** |
| خوراکي توکي | **٦٥.۲۸** | ۳۷.۹٪ | ۹۰.۷۰ | ۴۶.۶٪ | ۴۳.۱۴ | **۳۷.٥٪** | ۵۰.۶۵ | ۴۰.۸٪ | ۱۵۴.۱۱ | **٦۱٪** |
| څرمن او وړۍ | **۲۷.۹۲** | ۱۶٪ | ۷.۷۷ | ۴.۰٪ | ۶.۴۹ | **٥.٦٪** | ۲.۰۲ | ۱.۶٪ | ۳.۰۵ | **۱.۲٪** |
| طبي بذرونه او داسې نور | **۷٤.٦٦** | ۴۳٪ | ۹۱.۶۵ | ۴۷.۱٪ | ۵۸.۴۱ | **٥۰.۸٪** | ۶۶.۷۳ | ۵۳.۷٪ | ۸۷.۶۶ | **۳٤.۹٪** |
| د سوداګرۍ بیلانس | **-۱,۲۸۱.۷۲** | | **-۱,٦٤۹.٦۸** | | **-۱,۳۹۳.٦۲** | | **-۱,۹٦٥.۷٤** | | **-۱,٤٦۹.٥۷** | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | **-٦٪** | | **-۸٪** | | **-۳۰٪** | | **-۳٤٪** | | **۰٪** | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورې- د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه ( په میلیون امریکایي ډالر)

| **هېوادونه** | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | **۱۲۹.۷٥** | **٥۱.٦۲٪** | **۲٦۸.۰۰** | **۱٥.٥۷٪** | **-۱۳۸.۲٥** |
| هند | **۸٤.٦٤** | ۳۳.۶۷٪ | ۵۹.۳۲ | ۳.۴۵٪ | ۲۵.۳۲ |
| ایران | **٦.۹۸** | ۲.۷۸٪ | ۲۸۴.۴۴ | ۱۶.۵۳٪ | -۲۷۷.۴۶ |
| جرمني | **۳.٥۲** | ۱.۴۰٪ | ۹.۱۷ | ۰.۵۳٪ | - ۵.۶۵ |
| چین | **۲.٥٥** | ۱.۰۱٪ | ۲۸۲.۰۶ | ۱۶.۳۹٪ | -۲۷۹.۵۱ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۱.۱۳ | ۰.۰۷٪ | -۱.۱۳ |
| سعودي عربستان | **۰.۷۱** | ۰.۲۸٪ | | ۰.۰۰٪ | ۰.۷۱ |
| د امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۱۴.۹۶ | ۰.۸۷٪ | -۱۴.۹۶ |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | **٦.۱۹** | ۲.۴۶٪ | ۴۷۹.۴۰ | ۲۷.۸۶٪ | - ۴۷۳.۲۱ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۴۶.۸۷ | ۲.۷۲٪ | - ۴۶.۸۷ |
| نور هېوادونه | **۱۷.۰٤** | ۶.۷۸٪ | ۲۷۵.۶۴ | ۱۶.۰۲٪ | - ۲۵۸.۶۰ |
| **ټولیزه** | **۲٥۱.۳۸** | ۱۰۰٪ | **۱,۷۲۰.۹۹** | ۱۰۰٪ | **(۱,٤٦۹.٦۱)** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورۍ– د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ( په میلیون امریکایي ډالر)

| هېوادونه | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۱۱۰.٦۰ | ٦٤.۱۳٪ | ۲۲٥.۱٥ | ۱٥.٤۸٪ | -۱۱٤.٥٥ |
| هند | ٤۸.۷٥ | ۲۸.۲۷٪ | ۳۲.۹۰ | ۲.۲۶٪ | ۱۵.۸۵ |
| ایران | ۱.۷٥ | ۱.۰۱٪ | ۲۶۵.۸۸ | ۱۸.۲۸٪ | -۲۶۴.۱۳ |
| جرمني | ۰.۲٥ | ۰.۱۴٪ | ۷.۰۲ | ۰.۴۸٪ | -۶.۷۷ |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | ۱.۷۳ | ۱.۰۰٪ | ۳۲۰.۶۰ | ۲۲.۰۵٪ | -۳۱۸.۸۷ |
| چین | ۰.۰٦ | ۰.۰۳٪ | ۳۳۵.۰۹ | ۲۳.۰۴٪ | -۳۳۵.۰۳ |
| سعودي عربستان | ۰.۰۳ | ۰.۰۲٪ | | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۳ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۶۳.۵۸ | ۴.۳۷٪ | -۶۳.۵۸ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۲.۲۱ | ۰.۱۵٪ | -۲.۲۱ |
| د امریکې متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۱۹.۵۹ | ۱.۳۵٪ | -۱۹.۵۹ |
| نور هېوادونه | ۹.۲۸ | ۵.۳۸٪ | ۱۸۲.۱۹ | ۱۲.۵۳٪ | -۱۷۲.۹۱ |
| **ټولیزه** | **۱۷۲.٤٥** | **۱۰۰.۰۰٪** | **۱٤٥٤.۲۱** | **۱۰۰.۰۰٪** | **-۱۲۸۱.۷٦** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۴ جدول: بهرنۍ پوراینې، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه

| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنۍ پوراینې | ۲،۱۸۵.۸۷ | ۱۰۰.۰۰ |
| دوه اړخیزه | ۱،۰۰٦.۷٦ | ۴۶.۰۶ |
| د پاریس کلب | ۹۰۱.٤٦ | ۴۱.۲۴ |
| د روسیې فدراسیون | ۹۰۱.٤٦ | ۴۱.۲۴ |
| متحده ایالات | - | ۰.۰۰ |
| جرمني | - | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | ۱۰۵.۳۰ | ۴.۸۲ |
| څو اړخیزې ټولنې: | ۱،۱۷۹.۱۱ | ۵۳.۹۴ |
| د پراختیا نړیواله ټولنه ( نړیوال بانک) | ۳٦٦.۸٥ | ۱۶.۷۸ |
| د آسیا پراختیایي بانک | ٦۸۳.٥۷ | ۳۱.۲۷ |
| د پیسو نړیوال صندوق | ۷۹.۰۱ | ۳.۶۱ |
| اسلامي پراختیایي بانک | ٤۸.۰۰ | ۲.۲۰ |
| د اوپک صندوق | ۱.٦۹ | ۰.۰۸ |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

## ۶.۴ جدول: په ۱۳۹۶ مالي کال کې خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون امریکایي ډالر)

| په تیره ربعه کې بدلونونه | د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه | د ۱۳۹۵ مالي کال څلورمه ربعه | د بدلونونو سلنه | د ۱۳۹۶ مالي کال لومړی ربعه | د بدلونونو سلنه | د ۱۳۹۶ مالي کال دویمه ربعه | د بدلونونو سلنه | د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون امریکایي ډالر)** | **٦،٨١٤.٠١** | **٢٣.٢٢** | **٦،٧٧٧.٨٧** | **-٠.٥٣** | **٦،٨٣٨.٤٩** | **٠.٨٩** | **٦،٨٣٤.٣٧** | **-٠.٠٦** | **٧،٢٤٦.٣٩** | **٦.٣٥** |
| د شتمنۍ زېرمې | **۷،۴۹۸.۸۴** | ۲۲.۷۱ | ۷،۵۸۱.۹۸ | ۱.۱۱ | ۷،۵۹۳.۱۲ | ۰.۱۵ | ۷،۴۰۶.۴۴ | -۲.۵ | ۷،۹۹۴۸۱ | ۶.۶ |
| د پوراینې زېرمې | **۶۸۴.۸۳** | ۱۰.۹۱ | ۸۰۴.۱۱ | ۱۷.۴۲ | ۷۵۴.۶۳ | -۶.۱۵ | ۵۷۲.۰۸ | -۲۴ | ۷۴۸.۴۲ | ۹ |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانات | **۶۱۱.۷۹** | ۴.۰۰ | ۷۳۲.۶۶ | ۱۹.۷۶ | ۶۹۲.۱۹ | -۵.۵۲ | ۵۰۶.۵۸ | -۲۷ | ۶۸۸.۴۹ | ۱۳ |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | **۰.۱۴** | -۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | -۰.۰۴ |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | **۷۲.۹۰** | ۱۷.۵۳ | ۷۱.۳۱ | -۲.۱۸ | ۶۲.۳۱ | -۱۲.۶۳ | ۶۵.۳۶ | ۵ | ۵۹.۸۰ | -۱۸ |
| **ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس)** | **۶۱.۸۸** | | **۴۹.۳۳** | | **۶۰.۴۰** | | **۴۲.۵۳** | | **۵۵.۷۵** | |
| **خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس)** | **۵۶** | | **۴۴** | | **۲۷** | | **۲۰** | | **۲۵** | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# ۵
# د مالي سکتور بدلونونه

د ۱۳۹۶ مالي کال د دريمې ربعې په اوږدو کې د عامه سکتور کړنې په ځانګړې توګه د حکومت لخوا د کورنيو عوايدو د راټوليدو په برخه کې ښې وې.
همدا ډول د افغانستان عامه لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په پرتله لږ څه راکم شوي دي چې عمده لامل يې په ولايتونو او کابل کې د دوامداره خراب امنيتي وضعيت په پايله کې د شخصي پانګونو او د بودجې د اجراء کموالی ګڼل کيږي.

## ۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۶ مالي کال له پيل څخه د دريمې ربعې تر پايه پورې حکومت توانيدلی چې د تير کال د ورته مودې د ۴۷ سلنې په پرتله د ځانګړې شوې بودجې ۵۲ سلنه مصرف کړي. د عادي (عملياتي) بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې د پای له ۵۶ سلنې څخه ۶۳ سلنې ته زيات شوی دی. په ورته وخت کې د پراختيايي لګښت د اجراء نرخ د تير کال د دريمې ربعې د پای له ۳۰ سلنې څخه ۳۳ سلنې ته لوړ شوی دی. همدا ډول د ټوليزې بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې د پای په پرتله ۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالی ډېر لاملونه لري چې ډېر مهم يې د تدارکاتو اوږده پروسه او د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو په تصويب کې ځنډ، د بودجې د تصويب ځنډول، په ولايتونو کې خراب امنيتي شرايط او د بودجوي ادارو ناسمې کړنې ګڼل کيږي.

۱.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال عملياتي بودجه




۲.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال پراختيايي بودجه




۳.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال ټوليزه بودجه




سرچينه: د مالي وزارت/ د پولي سياست د آمريت محاسبه

## ۲.۵ د بودجې کسر

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې ټوليزه بودجې د ۱۳۹۶ مالي کال په دريمه ربعه کې ۳۴.۱۵ ميلیارده افغانۍ کسر درلوده، حال دا چې د ارزوني لاندې ربعه کې د بسپنو او د کورني عوايدو په ګډون ټوليزه بودجه ۲۹.۲۶ ميلیارده افغانۍ ډېريدنه په ګوته کوي.

## ۳.۵ د عوايدو راټولول

د ۱۳۹۶ مالي کال په دريمه ربعه کې ټوليزه راټول شوي کورني عوايد ۵۳.۱۸ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې د ۳۵.۴۱ ميلیارده افغانۍ په پرتله ۵۰ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په دريمه ربعه کې د مثبت بدلون عمده

لاملونه د عوایدو په سیستم کې د سمونونو راوستل، د نوی مالیاتي تدبیرونو پلي کول او د ګمرکونو او عوایدو په ادارو کې د نورو مهمو اداري سمونونو راوستل دي.

۴.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د آمریت محاسبه

### ۱.۳.۵ مالیاتي عواید

د شته شمیرو پر بنسټ، د ګمرکي حقونو په ګډون ټولیزه مالیاتي عواید د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴۵.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۴.۴۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸۷ سلنه یا ۲۱.۳۴ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه مالیاتي عوایدو په راټولیدو کې د زیاتوالي اصلي لاملونه ګمرکي حقونه، مستقیمې مالیې او ثابتې مالیې ګڼل کیږي.

په ورته وخت کې د ګمرکي محصول څخه راټول شوي ټولیزه مالیاتي عواید د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۷.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۶.۹۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۴۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي.

۶.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د آمریت محاسبه

۷.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب، ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د آمریت محاسبه

### ۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د ټولیزه کورنیو عوایدو بله عمده برخه جوړوي، د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله کمزوره کړنې لري.

نور راټول شوي عواید د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۵.۵۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۹.۶۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د نورو راټول شویو عوایدو د کمیدو اصلي لاملونه د پانګه ایزه ملکیتونو او غیر مالیاتي جریمو او مجازاتو د عوایدو کموالی ګڼل کیږي.

همدا ډول متفرقه عواید چې د غیر مالیاتي عوایدو ستره برخه جوړوي او کچه یې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۸.۴۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۲.۱۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۲ سلنه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي.

۸.۵ ګراف: د نورو عوایدو ترکیب، د ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

برعکس ټولنیزي بسپنې چې د ټولیزه کورني عوایدو یوازې ۲ سلنه جوړوي، ۳۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولنیزي بسپنې ټولیزه راټول شوي عواید د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې له ۱.۳۰ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱.۷۶ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي.

### ۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بیلابیلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیواله کمیټو څخه په دواړو عملیاتي او پراختیایي لګښتونو کې د یو لړ پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. د بسپنه ورکوونکو ټولیزه مرستې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې لږ څه زیاتې شوې دي.

ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۳.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې د ۳۶.۳۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۷۴ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. سر بیره پر دې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF) د پروګرام لاندې تر لاسه شوې بسپنې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۵.۹۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د شمېرې په پرتله ۱۹۷ سلنه زیاتوالی لري. برعکس د افغانستان د قانون او نظم لپاره د پیسو صندوق (LOTFA) څخه ترلاسه شوې مالي مرستې د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶.۳۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې حکومت توانیدلی دی چې د ټولیزه لګښتونو ۴۶ سلنه د کورنیو عوایدو او ۵۴ سلنه یې د بهرنیو مرستو له لارې تمویل کړي.

۹.۵ ګراف: د ملي بودجې تمویلي سرچینې، ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه



۱۰.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله (په میلیون افغانۍ)




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۵ لګښتونه

د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې ټولیزه لګښتونه ۸۷.۳۳ میلیارده افغانۍ تـه رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۸۹.۱۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې په دواړو برخو عادي او پرمختیایي لګښتونو کې کموالی راغلی دی.

همدا ډول عادي لګښتونه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۴.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۶۵.۰۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱ سلنه کموالی لري.

له بلې خوا، پراختیايي لګښتونه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۳.۱۰ میلیارده افغانۍ تـه رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۴.۰۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۴ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول د ټولیزه لګښتونو ۷۴ سلنه عادي لګښتونه او پاتې ۲۶ سلنه یې پراختیايي لګښتونو جوړوي.

۱۱.۵ ګراف: د حکومت د ټولیزه لګښتونو ترکیب، ۱۳۹۶ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

# ۶

## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

# ۶
# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنی د ۱۳۹۶ مالي کال د دریمې ربعې (د ۲۰۱۷ د سپټمبر د پای) په اوږدو کې ۲۹۸.۲۱ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې د ۳.۸۱ سلنه کموالي په پرتله ۳.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لاملونه په خزانه کې د نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو، د شتمنیو د بیرته ترلاسه کولو، ثابته شتمنیو او د نورو شتمنیو زیاتوالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورټوفولیو د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې په پای کې ۴۱.۰۵ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون د میاشتې د ۰.۴۵ سلنه زیاتوالي په پرتله ۰.۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې د پور په پورټوفولیو کې د زیاتوالي اصلي لاملونه د پورونو تسویه، د پورونو لغوه کول او د پورونو بیرته ترلاسه کول او په ورته وخت کې په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو اداینه ګڼل کیږي.

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په سپټمبر میاشت کې ۲۵۲.۹۲ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې د ۴.۵۰ سلنې ودې په پرتله ۴.۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو په سلو کې ۹۶.۱۵ جوړوي. همدا ډول د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د زیاتیدو اصلي لامل جاري امانتونه ګڼل کیږي. د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۰.۷۳ سلنه) او وروسته افغانی امانتونه (۳۲.۴۷ سلنه) دي. د بانکي نظام افغانی امانتونه د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون د ۰.۴۰ سلنې ودې په پرتله ۹.۱۳ سلنه زیاتوالی او د امریکایي ډالرو امانتونه د ۲۰۱۷ کال د جون د ۷.۳۰ سلنه کموالي پر وړاندې ۳.۸۷ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

د بانکي نظام پانګې پیاوړی وضعیت درلوده او د ۲.۲۳ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۳۵.۱۶ میلیارده افغانی ته رسیږي. د دوو بانکونو مالي پانګه له ټاکل شوي حد څخه ټیټه ثبت شوې ده. همدا ډول د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت (د خطر پر اساس عیار شوی ۱۲ سلنه شتمنی) له ټاکلي حد څخه پورته دی. د خطر پر اساس عیارې شوې پانګې لپاره د بازل معیار ۸ سلنه دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ( CRA ) د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۰.۴۳ سلنه ثبت شوی دی.

بانکي نظام د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې ۷۴۳ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې چې د ۲۰۱۷ کال د جون د ۹۸ میلیونه افغانی خالصې ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې له شتمنی ترلاسه شوې ګټه ( ROA ) ۰.۵۱ سلنې او له پانګې (اکویټي) ترلاسه شوې ګټه ( ROE ) ۲.۳۸ سلنې ته رسیږي. د بانکي نظام د ګټورتیا د زیاتیدو عمده لامل د پور په تخصیص کې کموالی ښودل شوی دی؛ بانکي نظام د ارزونې لاندې موده کې ۶۳ میلیونه بیا ترلاسه شوي تخصیصي پورونه ( چې د پورونو بیرته ورکړې رانغاړي) ثبت کړي دي. د ګټورتیا د زیاتیدو بل لامل د غیر ټکټاني لګښتونو کموالی په ګوته شوی، حال دا چې د خالصه ټکټاني او د غیر ټکټاني عواید راکم شوي دي او د معاشونو لګښت زیات شوی دی. دولتي بانکونو، خصوصي

بانکونو او د بهرنيو بانکونو نمايندګيو د ارزونې لاندې ربعه له ګټې سره پای ته رسولې ده.

### ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۷ زیږديز کال د جون مياشتې د ۳.۸۱ سلنه کموالي په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۳.۲۹ سلنه زياتوالی کړی دی. (د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ)

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه په خزانه کې نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې طلباتو ( ۲۲.۹۴ میلیارده افغانی یا ۱۷.۷۶ سلنه ) ثبت کړې ده. ورپسې په ترتیب سره نورو شتمنیو (۶۲۱ میلیونه افغانی یا ۴.۶۰ سلنه)، ثابته شتمنیو (۲۳۹ میلیونه افغانی یا ۳.۲۱ سلنه)، بیرته ترلاسه شوي شتمنۍ ( ۱۴۹ میلیونه افغانۍ ۱۴.۵۳ سلنه) زیاتې شوې دي، خو په نالملموسه شتمنیو او خالصه پورونه کې ډېر کم زیاتوالی راغلی دی. په ورته وخت کې د بانکونو ترمنځ طلبات او پانګه اچونې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې په ترتیب سره (۱۳.۶۹ میلیارده افغانی یا ۱۸.۰۵ سلنه) او (۹۳۵ میلیونه افغانی یا ۳.۶۷ سلنه) کموالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورتوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ د افغانستان بانک باندې طلبات (۵۱.۰۱ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۰.۸۴ سلنه)، خالصه پورونه (۱۱.۹۷ سلنه)، پانګونې (۸.۲۱ سلنه)، "نورې شتمنۍ" (۴.۷۳ سلنه) او ثابته شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۲.۵۷ سلنه جوړوي. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱.۶ جدول: د شتمنیو او پورونو ترکیب

| مبلغ په میلیون افغانۍ | ۱۳۹۶ غبرګولی/ ۲۰۱۷ جون | ۱۳۹۶ وږی/ ۲۰۱۷ سپتمبر | د ټولیزه شتمنیو/پورونو سلنه | وده |
|---|---|---|---|---|
| شتمنۍ | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۲۹,۱۶۵ | ۱۵۲,۱۰۶ | ۵۱.۰۱ | ۱۷.۷۶ |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۷۵,۸۵۱ | ۶۲,۱۵۴ | ۲۰.۸۴ | -۱۸.۰۵ |
| پانګونې | ۲۵,۴۱۶ | ۲۴,۴۸۱ | ۸.۲۱ | -۳.۶۷ |
| پورونه (خالصه) | ۳۵,۵۹۷ | ۳۵,۶۸۷ | ۱۱.۹۷ | ۰.۲۵ |
| نا ملموسه شتمنۍ | ۷۴۵ | ۸۳۲ | ۰.۲۸ | ۱۱.۶۷ |
| بیرته ترلاسه شوي شتمنۍ | ۱,۰۲۵ | ۱,۱۷۴ | ۰.۳۹ | ۱۴.۵۳ |
| ثابته شتمنۍ | ۷,۴۳۹ | ۷,۶۷۷ | ۲.۵۷ | ۳.۱۹ |
| نور | ۱۳,۴۷۷ | ۱۴,۰۹۸ | ۴.۷۳ | ۴.۶۰ |
| ټولیزه | ۲۸۸,۷۱۵ | ۲۹۸,۲۰۹ | | ۳.۲۹ |
| پورايني | | | | |
| امانتونه | ۲۴۲,۸۹۶ | ۲۵۲,۹۲۶ | ۹۶.۱۵ | ۴.۱۳ |
| پور اخیستنې | ۴,۵۳۱ | ۳,۵۵۷ | ۱.۳۵ | -۲۱.۴۹ |
| فرعي پورايني | ۱۱ | ۱۱ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ |
| نور | ۶,۸۸۰ | ۶,۵۵۰ | ۲.۴۹ | -۴.۷۹ |
| ټولیزه | ۲۵۴,۳۱۸ | ۲۶۳,۰۴۴ | | ۳.۴۳ |
| مالي پانګه | ۳۴,۳۹۷ | ۳۵,۱۶۵ | | ۲.۲۳ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د ارزوني لاندې ربعې په اوږدو کې ۴۱.۰۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ کال د جون د میاشتې راهیسې ۷۳ میلیونه افغانۍ یا ۰.۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۷۷ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د کمیدو اصلي لاملونه د پورونو تسویه، د پورونو لغوه کول او د پورونو بیرته ترلاسه کول او په ورته وخت کې په ځینو بانکونو کې د نوي پورونو اداینه ګټل کیږي.

۲.۶ ګراف: د ناخالصه پورونو په پورتفولیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د پور په پورتوفولیو کې کموالی اتو بانکونو پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې څلورو بانکونو د خپل پور په پورتوفولیو کې زیاتوالی او پاتې دوو بانکونو په پور ورکړه کې ونډه اخیستې نه ده.

د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه راکمه شوې ده، حال دا چې په دولتي بانکونو کې بیا د ناخالصه پورونو پورتوفولیو کچه زیاته شوې ده. خصوصي بانکونه د ارزوني لاندې مودې په اوږدو کې په ټولیزه پورتوفولیو کې د ۸۹.۹۴ سلنه ونډې په لرلو سره ۰.۷۲ سلنه یا ۲۷۱ میلیونه افغانۍ کموالی، د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د بانکي نظام په پورتوفولیو کې د ۱.۰۳ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳.۴۰ سلنه کموالی، حال دا چې دولتي بانکونو د ۹.۰۱ سلنې ونډې په لرلو سره ۶.۱۰ سلنه یا ۲۱۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ثبت کړی دی.

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړې تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي او د شتمنۍ د ډله بندۍ او د پور د تخصیص د تجدید شوي مقررې له مخې، د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشتې راهیسې بانکونه اړ دي چې د خپلو معیاري شتمنیو لپاره لږ تر لږه ۱ سلنه زېرمه بیله کړي.

د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د سپټمبر په پای کې د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونو تدارکاتي زېرمې د ۲۰۱۷ کال د جون میاشتې له ۱۳.۴۵ سلنې څخه د ارزوني لاندې مودې په اوږدو کې ۱۳.۰۷ سلنې ته راکمې شوې دي.

### ۳.۱.۶ د کریډټ ویشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی وومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سرببره مالي سرچینو ته لاسرسی زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د ویش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو ویشلی دی[1]. په بیلابیلو سکتورونو کې د کریډټ له شننې څخه معلومیږي چې د پور پورتوفولیو ستره برخه "د نورو سوداګریزو پورونو" د ۲۰۱۷

۱ د ۲۶/۰۶/۱۳۹۳ نیټې د ۹۳/۰۱ شمیرې د محاسبې متحد المال

کال د جون میاشتې د ۹۰.۹۵ سلنې په پرتله ۹۱.۲۰ سلنه) په توګه ډله بندي شوې چې په ټولیزه توګه د "پټرولیم او روغنیاتو" لپاره (۱۰.۱۳ سلنه)، "پرچونه سوداګرۍ" لپاره (۸.۴۵ سلنه)، د "نور ټولو خدمتونو" لپاره (۷.۵۲ سلنه)، د "ودانیز او رغونې" لپاره (۷.۴۹ سلنه)، د "خوراکي توکو" لپاره (۷.۳۳ سلنه) او د " مخابراتو" سکتور لپاره (۴.۹۷ سلنه) ځانګړې شوې ده. د پرچونه سوداګرۍ، منسوجاتو، تولیداتو، خدمتونو او خوراکي توکو په سکتورونو کې د مطلق مبلغ او د ټولیزه ناخالصه پورونو د سلنې له پلوه د پام وړ زیاتوالی راغلی. حال دا چې " د نورو ټولو خدمتونو"، د "هوټلونو او رسټورانټونو"، " نورو بېخبنستیزو پروژو"، "ماشین الاتو"، "پټرولیم او روغنیاتو" په سکتورونو کې تر ټولو ډېر زیاتوالی ثبت شوی دی. د کوچنې پورونو سکتور ته ځانګړي شوي پورونه ۱۳۵ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي چې ارزښت یې ۴.۷۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د یو بانک لخوا وړاندې کیږي، حال دا چې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره ځانګړي شوي پورونه ۲.۷۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې ۵۷ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او د پنځو بانکونو لخوا وړاندې شوي دي. څو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو په ځانګړي کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکیچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کیږي چې دا کار سکتورونو باندې ناوړه اغېزه پریږدي. له همدې امله بانکونه باید د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو اړوند خطرونه له نږدې وڅاري. د پورونو شننه ښیي چې د صعب الحصول پورونه عمده برخه په سوداګریز سکتور پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۴۷.۱۸ سلنه جوړوي. د صعب الحصول پورونو د کمیدو اصلي لامل د سوداګرۍ، مخابراتو او نورو په سکتورونو کې کموالی په ګوته شوی دی، حال دا چې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د خدمتونو، اسانتیاوو او تولیداتو په سکتورونو کې زیاتوالی راغلی دی. شاوخوا ۶۸.۳۲ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې هرات او بلخ ولایتونه په ترتیب سره په دویم او دریم ځای او ورپسې قندهار او بادغیس ولایتونه په څلورم او پنځم ځای کې راغلي دي. په نورو ولایتونو کې د پورونو تخصیص (تناسب) ډېر لږ دی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

## ۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري ویش

| سکتورونه | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندۍ (د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندۍ (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ ډسمبر) | د ۱۳۹۶ وږی (د ۲۰۱۷ سپتمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او ودانیو پورونه | ۱۹.۹۲ | ۲۵.۹۸ | ۲.۸۵ | ۲.۲۹ | ۲.۰۲٪ | ۱.۸۰٪ | ۱.۹۰٪ | ۲.۵۹٪ |
| **نور سوداګریزه پورونه** | - | - | - | - | - | - | - | - |
| کان کیندنه | - | ۰.۰۲ | ۰.۷۲ | ۰.۱۱ | ۰.۰۷٪ | | | |
| تولیدات | ۱.۲۲ | ۲.۷۲ | ۱۳.۳۲ | ۱۱.۸۸ | ۹.۳۶٪ | | | |
| سوداګري | ۳۲.۲۹ | ۳۴.۱۶ | ۲۷.۸۴ | ۲۸.۳ | ۲۹.۸۱٪ | | | |
| اړیکې | ۱.۰۴ | ۱.۲۳ | ۰.۹۴ | ۲.۳۵ | ۳.۷۰٪ | | | |
| خدمتونه | ۴.۸۴ | ۶.۷۲ | ۱۱.۹۵ | ۱۵.۹۴ | ۲۲.۱۱٪ | | | |
| اسانتیاوې | ۲.۴۷ | ۰.۰۳ | ۰.۳ | ۰.۰۷ | ۰.۰۵٪ | | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | ۰.۲۷٪ | ۰.۳۳٪ | ۰.۲۷٪ |
| څاروي او فارمونه | | | | | | ۰٪ | ۰.۰۳٪ | ۰.۲۲٪ |
| تولیدات او صنعت (د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | ۲٪ | ۴.۴۲٪ | ۳.۶۳٪ |
| لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | ۴٪ | ۴.۲۴٪ | ۴.۵۵٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | | | | | | ۳٪ | ۱.۹۶٪ | ۲.۵۷٪ |
| منسوجات (نساجي) | | | | | | ۲.۵۹٪ | ۰.۵۲٪ | ۱.۹۵٪ |
| بریښنا | | | | | | ۰.۳۵٪ | ۰.۲۲٪ | ۰.۴۰٪ |
| ودانۍ او تعمیرات | | | | | | ۱۲.۵۲٪ | ۷.۵۴٪ | ۷.۴۹٪ |
| خدمتونه | | | | | | ۴.۷۹٪ | ۳.۸۰٪ | ۴.۱۷٪ |
| هوټل او رستورانتونه | | | | | | ۱.۲۰٪ | ۱.۴۶٪ | ۱.۲۳٪ |
| مخابرات | | | | | | ۲.۹۲٪ | ۵.۷۰٪ | ۴.۹۷٪ |
| ځمکنۍ ټرانسپورټ | | | | | | ۴.۸۷٪ | ۵.۳۱٪ | ۲.۵۲٪ |
| هوایي ټرانسپورټ | | | | | | ۴.۱۸٪ | ۲.۶۶٪ | ۳.۳۱٪ |
| روغتیا | | | | | | ۰.۷۱٪ | ۱.۱۶٪ | ۱.۴۳٪ |
| رسنۍ، اعلانونه او چاپ | | | | | | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۶۴٪ |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | ۱.۴۱٪ | ۷.۵۶٪ | ۷.۵۲٪ |
| غونډ پلورنه | | | | | | ۴.۹۳٪ | ۹.۸۹٪ | ۵.۵۳٪ |
| ماشینونه | | | | | | ۰.۱۲٪ | ۰.۲۵٪ | ۰.۲۲٪ |
| پترولیم او روغنیات | | | | | | ۸.۷۴٪ | ۹.۸۰٪ | ۱۰.۱۳٪ |
| پرزه جات | | | | | | ۰.۲۴٪ | ۱.۴۲٪ | ۰.۲۵٪ |
| بریښنایي وسایل | | | | | | ۱.۴۰٪ | ۱.۵۸٪ | ۲.۹۷٪ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | | | | | | ۱.۸۷٪ | ۲.۷۳٪ | ۲.۷۳٪ |
| خوراکي توکي | | | | | | ۴.۵۲٪ | ۸.۲۴٪ | ۷.۳۳٪ |
| نور ټول توکي | | | | | | ۵.۷۲٪ | ۳.۴۷٪ | ۳.۳۱٪ |
| پرچون پلورنه | | | | | | ۳.۹۲٪ | ۳.۲۸٪ | ۸.۴۵٪ |
| سړکونه او د ریل پټلۍ | | | | | | ۲.۴۱٪ | ۱.۱۷٪ | ۰.۸۵٪ |
| بندونه | | | | | | ۰.۶۱٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۰۰٪ |
| کانونه | | | | | | ۰.۰۸٪ | ۱.۴۸٪ | ۰.۵۱٪ |
| نورې بیخبنسټیزې پروژې | | | | | | ۱.۸۱٪ | ۲.۴۴٪ | ۲.۰۷٪ |
| مالي او پور ورکوونکي اداري | | | | | | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ |
| کرنیز پورونه | ۰.۸۸ | ۰.۷۵ | ۲.۰۶ | ۲.۶۶ | ۲.۳۸٪ | ۲.۳۴٪ | ۲.۳۵٪ | ۳.۸۸٪ |
| مصرفي پورونه | ۱.۳۳ | ۱.۰۱ | ۰.۸۲ | ۰.۷۴ | ۰.۲۴٪ | ۰.۲۶٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۸۷٪ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ۷.۳ | ۸.۹۵ | ۱۵.۶۵ | ۱۴.۴۶ | ۱۰.۸۴٪ | ۷.۱۴٪ | ۲.۶۸٪ | ۰.۹۱٪ |
| ټول نور پورونه | ۳.۶۹ | ۱۰ | ۱۲.۶۵ | ۱۰.۷۱ | ۹.۴۱٪ | ۶.۶۸٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۵۵٪ |

**سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک**

## ۲.۶ د پورونو ډله بندي

### ۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدبیرونه پیاوړي کړي، څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې مطلوبه نه ګڼل کیږي، راکمه کړي. سربېره پر دې، داسې انګیرل کیږي هغه بانکونه چې د پور ورکولو په برخه کې کمزوره کړنې لري، د خطر مدیریت یې بې اغیزې دی. پکاره ده چې د پور په برخه کې لږ کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتنلیکونو په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، متحدالمالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره سم، عمل وکړي او د پور اخیستونکو مالي وضعیت له نږدې وڅاري، څو ډاډمن شي چې د نورو پورونو ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه متوجه کوي.

په پولي اصطلاح، د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر د میاشتې په پای کې صعب الحصول پورونه ۷.۲۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۵.۷۵ سلنه جوړوي او د بانکي نظام مقرراتي پانګه د ۲۰۱۷ کال د جون د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۷.۳۵ میلیارده افغانیو یا ۱۷.۸۸ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۲۳.۳۸ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي. له ۱۷.۷۵ سلنه صعب الحصول پورونه څخه ۱۶.۰۶ سلنه یې په پنځو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۶۷.۹۶ سلنه او د مقرراتي پانګې په سلو کې ۴۹.۹۲ جوړوي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت له هغو مالي ادارو سره له نږدې کار کوي چې د پور کمزوره کړنې لري، څو د خپلو شتمنیو د کیفیت د ښه والي لپاره پلانونه طرحه او تطبیق کړي. دا وضعیت مقرراتي څارنې او چټکه اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د دغو کمزوره بانکونو د ګټورتیا او د پانګې پر کفایت باندې د منفي اغیزو د مخنیوي لپاره د اعتباري خطر مدیریت پیاوړی کړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو سکتوري ویش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه سوداګریزه پورونه ۴۷.۱۸ سلنه او وروسته نور سکتورونه د صعب الحصول پورونو ۲۱.۰۹ سلنه جوړوي، حال دا چې د ارزونې لاندې موده کې د صعب الحصول پورونو د خدمتونو، عامه اسانتیاوو او تولیدي سکتورونو ونډه په ترتیب سره ۱۳.۵۷، ۱۰.۸۵ او ۷.۱۳ سلنې ته رسیږي. د صعب الحصول پورونو د زیاتیدو عمده لامل د خدمتونو، اسانتیاوو او مخابراتو د سکتورونو وده ښودل شوی، حال دا چې د سوداګرۍ، مخابراتو او نورو سکتورونو ته په پور ورکړه کې کموالی راغلی دی.

ګراف ۳.۶: د پور د پورتفولیو کیفیت




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)[۲] پورونه د ۱۳۹۶ مالي کال په دریمه ربعه کې د ۴۰۳ میلیون افغانۍ

۲. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ګټانه یې د ۳۱ تر ۹۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوې پاتې وي. پاتې راغلې شتمنې او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ګټانې مبلغ یې د ۹۱ تر ۳۶۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوې پاتې وي.

کموالی په درلودلو سره ۱۰.۸۷ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۲۶.۴۹ سلنه او د مقرراتي پانګې ۳۴.۸۹ سلنه جوړوي او له همدې امله د عامل پلاوي لخوا پیاوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د معکوس ډله بندي شوي پورونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګډې اداري د پیاوړې کولو، د داخلي ابزارونو د اغېزمنتیا زیاتولو او د داخلي او غیر سیستماتیک خطر پر ښه مدیریت باندې ډېر ټینګار وشي. د بانک مدیریت باید مناسبه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي، څو په هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمیدو لامل کیږي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود به له اصولي پلوه د بانکونو د مهمو شتمنیو کیفیت کمزوری کړي په تېره بیا د بانک عامل پلاوی باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا شان خطرونو وړاند وینه، د بالقوه خطرونو مخنیوی وکړي او د احتیاطي مقررو له مخې مناسبه احتیاطي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي.

### ۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ[۳] کې ډله بندي شوي پورونه ۳.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۹.۲۱ جوړوي او د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې راهیسې ۰.۳۸ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د بانکي نظام په ۱ سوداګریز بانک پورې تړاو لري. د پورونو دا کټګوري دقیقې څارنې او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوسه ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ کې وشمېرل شي.

### ۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۴]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۶۲ میلیونه افغانۍ یا ۰.۱۵ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون راهیسې ۱۲۴ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي او په څلور بانکونو پورې تړاو لري. بانکونه اړ دي چې هر وخت کافي پانګه ولري، څو په دې کټګورۍ کې د ډله بندي شوي پورونو خسارې جبران کړي، ځکه چې دا کټګورۍ له بیلانس شیټ څخه پورونه لغو کوي.

### ۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري. اوس مهال د بانکونو ترمنځ طلبات د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې راهیسې د ۱۸.۱۴ میلیارده افغانۍ یا ۵.۳۶ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټولیزه شتمنیو ۶۲.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۲۰.۹۵ سلنه جوړوي چې دا کموالی په څلورو بانکونو پورې اړه لري. دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام په بانکونو باندې د طلباتو یوه برخه جاري حسابونو او د شپې لخوا امانتونه ته لیږدولې دي.

له بلې خوا د هېواد د امنیتي او اقتصادي وضعیت په ښه کېدو سره بانکي سکتور کولای شي چې دا شتمنی په لوړ عاید لرونکو شتمنیو باندې بدلې کړي. بانکونه نه باید یوازې د یو انفرادي بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا هېوادونو کې چې د دوی مالي وجوه ایښې وي، هم وڅاري.

۳. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکټاني مبلغ یې د ۱ تر ۳۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.
۴. د ۱۶/۰۹/۱۳۹۲ نیټې د ۰۳/۹۲ شمېرې د محاسبې لیک له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي یا ټکټاني مبلغ اداینه یې د ۵۴۰ یا زیاتو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي.

۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونه ترمنځ د بین البانکي طلباتو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۶.۲.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د خالصې پانګې[۵] پورتوفولیو په اړوندو کمپنیو کې پور پاڼې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه اچونه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې کچه د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې راهیسې ۳.۶۷ سلنه یا ۹۳۵ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي چې د ټولیزه شتمنیو ۲۴.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۸.۲۱ سلنه جوړوي او دا کموالی په ۱ بانک پورې اړه لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هیواده بهر ترسره شوې ده. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا کموالی په دوو دولتي بانکونو، پنځو سوداګریزو بانکونو او دریو د بهرنیو بانکونو نمایندګیو پورې تړاو لري.

### ۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵۱.۰۱ سلنه جوړوي او د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې۲۲.۹۴ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي او ارزښت یې د ۲۰۱۷ کال د جون په پای کې ۱۵۲.۱۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د دې زیاتوالي اصلي لامل په خزانه کې نغدي پیسې، اجباري زیرمې او د شپې لخوا امانتونه ګڼل کیږي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زیرمې له مقرري سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

### ۳.۶ پورراینې

د بانکي نظام ټولیزه پورراینې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۲۶۳.۰۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون میاشتې د ۲۵۴.۳۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸.۷۲ میلیارده افغانۍ یا ۳.۴۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې موده کې له امانتونو پرته د ټولیزه پورراینو ټولو برخو کموالی درلودلی دی.

د پورراینو تر ټولو ډیره برخه امانتونه (۹۶.۱۵ سلنه) جوړوي چې نورې پورراینې په دویم او پور اخیستنې په دریم ځای کې راځي.

۵.۶ ګراف: پورراینې ۸.۷۲ میلیارده افغانۍ یا ۳.۴۳ سلنه زیاتې شوې دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت

۵. پانګې اچونې کې په پور پاڼو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې شاملې دي

### ۱.۳.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه ګڼل کیږي د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په میاشت کې ۲۵۲.۹۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون په پرتله ۱۰.۰۳ میلیارده افغانۍ یا ۴.۱۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټولیزه امانتونه ۸.۷۳ میلیارده د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۴۴.۱۹ میلیارده د مشتریانو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام په امانتونو کې د زیاتیدو اصلي لامل په افغانۍ او امریکایي ډالرو د جاري امانتونو زیاتوالی ګڼل کیږي.

د اسعارو شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ اینښودل شوي امانتونه د ۴.۹۵ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۳۲.۴۷ سلنه، حال دا چې په امریکایي ډالرو اینښودل شوي امانتونه د ۲.۷۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۶۰.۷۴ سلنه جوړوي.

د خصوصي بانکونو ټولیزه امانتونه د ۵.۵۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۱۵۵.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو۶۱.۴۳ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه د ارزونې لاندې موده کې ۷۳.۲۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون راهیسې ۳.۴۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۲۹.۹۸ جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۲۱.۷۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون په پرتله د ۲.۸۳ سلنه کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۸.۵۸ سلنه جوړوي.

د امانتونو د ډولونو له پلوه، د ۲۰۱۷ کال د جون راهیسې جاري امانتونه د ۵.۸۸ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو ۷۲.۷۲ سلنه جوړوي او موده ایز امانتونه د ټولیزه امانتونو د ۷.۷۴ سلنې په جوړولو سره دویم ځای لري چې ۶.۸۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د بانکي نظام د سپما امانتونو پورټوفولیو د ۲.۸۳ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټولیزه امانتونو ۱۹.۵۴ سلنه جوړوي.

۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب




۷.۶ ګراف: په افغانیو اینښودل شوي امانتونه




۸.۶ ګراف: امانتونه ۱۰.۰۳ میلیارده افغانۍ یا ۴.۲۳ سلنه کم شوي دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

### ۲.۳.۶ پور اخيستنې

د بانکي نظام د تمويل په ټوليزه جوړښت کې د پور اخيستنې ونډه د۲۱.۵۰ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر په پای کې ۳.۵۵ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټوليزه پورواینو ۱.۳۵ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام څلور بانکونه پوروړي دي.

### ۴.۶ نقدينه ګی (سياليت)

د نقدينه ګی خطر کولای شو د پور اخيستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سيالو شتمنيو نه درلودل تعريف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدينه ګی څخه د راولاړې شويو ستونزو د مخنيوی لپاره سياليت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه بايد د شتمنيو يوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سياستونو په پام کې نيولو سره د نيمګړتياوو د تحليل او تجزيې له لارې د بانک د نقدينه ګی، د حساسيت ټيسټ، د سناريو د ښننې، د نغدي جريان د ښننې او داسې نورو له مديريت څخه عبارت دي.

### ۱.۴.۶ د سياليت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سيالو) شتمنيو نسبت له ۱۵ سلنې ټيټ ونه ساتي. دا کار د سياليت د کميدو د مخنيوی لپاره بنه لاره ګڼل کيږي.

د بانکي سکتور د نقدينه ګی کچه په ټوليزه توګه په دې دوره کې زياته شوې ده چې د ټوليزه شتمنيو ۷۲.۰۷ سلنه نغدې شتمنی جوړوي. په منځنی ډول د ټول بانکي نظام د سياليت کچه ۶۲.۵۴ سلنې ته رسيږي. حال دا چې د ټولو بانکونو د سياليت نسبت له ټاکل حد څخه لوړ دی. ( د لا معلوماتو لپاره د ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټينګښت مهم شاخصونه

| نسبتونه | د ۲۰۱۰ مارچ | د ۲۰۱۱ مارچ | د ۲۰۱۱ مارچ * | د ۲۰۱۱ مارچ | د ۲۰۱۲ ډيسمبر | د ۲۰۱۳ ډيسمبر | د ۲۰۱۴ ډيسمبر | د ۲۰۱۵ ډيسمبر | د ۲۰۱۶ ډيسمبر | د ۲۰۱۷ جون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفايت د نسبت مجموعه | ۲۵.۸۱ | ۱۴.۴۶- | ۳۰.۳۹ | ۲۳.۰۶ | ۲۱.۸۴ | ۲۶.۳۴ | ۲۶.۴۶ | ۱۹.۹۴ | ۲۷.۶۸ | ۳۰.۴۳ |
| په ۱ رديف کې د پانګې د کفايت نسبت | ۲۴.۱۹ | ۱۴.۵۱- | ۳۰.۲۹ | ۲۳.۹۸ | ۱۹.۹۷ | ۲۴.۶۵ | ۲۶.۰۹ | ۱۹.۶۶ | ۲۲.۹۳ | ۲۸.۹۹ |
| په ټوليزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | ۰.۵ | ۴۸.۴ | ۳.۷۵ | ۵.۱۵ | ۵.۳۱ | ۵.1 | ۸.۰۹ | ۱۲.۳۴ | ۱۲.۶۷ | ۱۷.۷۵ |
| له شتمنيو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | ۱.۴۱ | ۲۰.۰۸- | ۰.۲۴ | ۱.۲۱- | ۰.۵۴- | ۰.۷۴ | ۰.۹۰ | ۰.۲۰ | ۰.۱۱ | ۰.۵۱ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) | ۱۰.۳۵ | ۵۲۰.۶۶- | ۱.۹ | ۱۷.۹- | ۷.۱۷- | ۱۰.۰۳ | ۷.۳۵ | ۱.۶۹ | ۱.۰۸ | ۲.۳۸ |
| د سياليت نسبت ( پراخه منځنی کچه ) | ۵۹.۱۹ | ۶۳.۳۲ | ۶۳.۸۳ | ۵۷.۳۷ | ۷۲.۱۳ | ۶۷.۹۳ | ۷۳.۶ | ۶۸.۲۲ | ۶۷.۷۴ | ۶۲.۵۴ |
| په ټوليزه شتمنيو کې د سيالو شتمنی ونډه | ۰.۳۸ | ۴۰.۵۸ | ۴۷.۰۱ | ۵۵.۸۲ | ۶۳.۷۵ | ۷۳.۱۸ | ۷۳.۲۸ | ۷۵.۰۵ | ۷۱.۹۸ | ۷۲.۰۷ |

* د نوي کابل بانک پرته

سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

**۵.۶ پانګه**

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۳۵.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۰.۰۲۲۳ سلنه یا ۷۶۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په مالي پانګه کې دا زیاتوالی په عمده توګه ګټو او د پانګې تزریق پورې تړاو لري.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۰.۴۳ سلنې ته رسیږي. ( د لا زیاتو معلوماتو لپاره د ۶.۵ ګراف وګورئ)، خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د دوو بانکونو پرته د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې حد لوړ ټاکل شوي دي. همدارنګه د بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد (د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

**۶.۶ ګټورتیا (نافعیت)**

بانکي نظام د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په دریمه ربعه کې په ټولیزه توګه ۷۴۳ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د جون د ۹۸ میلیونه افغانۍ خالصه ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا زیاتوالی چې د ګټې/ زیان په ۶.۵ جدول کې وړاندې کیږي، عمده لامل یې د پور په تخصیص کې کموالی په ګوته شوی دی، بانکي نظام د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د دریمې ربعې (سپټمبر) په پای کې ۶۳ میلیونه افغانۍ پورونه بیرته ترلاسه کړي دي. د دې ترڅنګ د بانکي نظام د ګټورتیا بل لامل په غیر تکتانه لګښتونو کې کموالی په ګوته شوی دی. حال دا چې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ټکټانې په خالصه عوایدو، د غیر ټکټانې په عوایدو کې کموالی او د معاشونو په لګښتونو کې زیاتوالی راغلی دی. (د لا زیاتو معلوماتو لپاره ۶.۵ جدول ته مراجعه وکړئ).

له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه ( ROA) دا په ګوته کوي چې یو بانک د ښه مدیریت په پایله کې له هرې شتمنۍ څخه څومره ګټه تر لاسه کړې ده. د بانکي نظام له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۵۱ سلنې ته رسیږي، حال دا چې له پانګې څخه تر لاسه شوې ګټه چې په بانک کې د پانګه اچول شوې اکویټۍ د ونډه لرونکو ونډه په ګوته کوي، د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په پای کې ۲.۳۸ سلنه ثبت شوې ده. د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په پای کې د دولتي بانکونو( SOB)[۶] له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه ۱.۱۹ سلنه، د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ( BOFB)[۷] له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۵۱ سلنه، حال دا چې د خصوصي بانکونو (PB)[۸] له شتمنیو څخه تر لاسه شوې ګټه منفي ۰.۰۴ سلنه ثبت شوې ده.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام څلورو بانکونو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۲۸۶.۸۷ میلیونه افغانۍ زیان کړی، حال دا چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په اوږدو کې څلورو بانکونو ۶۸۱ میلیونه افغانۍ زیان ثبت کړی ؤ. د اصلي عاید ( Core Income ) پر بنسټ، شپږو بانکونو د ارزونې لاندې موده له زیان سره پای ته رسولې، حال دا چې د ۲۰۱۷ کال په جون کې پنځه بانکونه په زیان کې ؤ.

د ډلې پر بنسټ شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې موده له ګټې سره پای ته رسولې ده. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۶.۱۰ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بانکي نظام د ګټورتیا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونه جوړوله چې ۳۱۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، ورپسې په ترتیب سره د خصوصي بانکونو ګټه ۲۶۹ میلیونه او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ګټه ۱۵۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

---

۶. SOB دولتي بانکونه ۷. BOFB د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ ۸. PB خصوصي بانکونه

## ۴.۶ جدول: د ګټې / زیان جدول

| توکي | ۱۳۹۶ غبرګولی (د ۲۰۱۷ جون) | ۱۳۹۶ وری (د ۲۰۱۷ سپتمبر) | د ربعي له مخې د بدلونونه سلنه |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | ۲٫۴۱۶ | ۲٫۲۱۴ | – ۸.۳۶ |
| د ټکټاني لګښت | ۴۵۴ | ۴۵۰ | –۰.۸۸ |
| د ټکټاني خالص عاید | ۱٫۹۶۲ | ۱٫۷۶۴ | –۱۰.۰۹ |
| د غیر ټکټاني عاید | ۱٫۶۷۶ | ۱٫۶۱۰ | –۳.۹۳ |
| د غیر ټکټاني لګښتونه | ۱٫۴۸۶ | ۱٫۴۴۷ | –۲.۶۲ |
| د معاش لګښت | ۱٫۰۱۰ | ۱٫۰۵۲ | ۴.۱۵ |
| د پور تخصیص | ۹۱۹ | (۶۳) | –۱۰۶.۸۵ |
| د مالیې مخکې ګټه/زیان | ۲۲۳ | ۹۳۸ | ۳۲۰.۶۲ |
| د مالیې وروسته ګټه/ زیان | ۹۸ | ۷۴۳ | ۶۵۸.۱۶ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام له پانګې او شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټې



سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱۲.۶ ګراف: خالصه نهايي ټکتانه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۷.۶ د اسعارو خطر

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې د بانکونو لخوا په هغه محدوده کې په پام کې نیول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې شتون لري، پرته له پنځو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (د امریکایي ډالرو اوړد مهاله وضعیت) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دا بانکونه باید خپل اسعاري وضعیت په ټاکلي محدوده کې واقع کړي، که نه نو د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لا زیان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۱.۵۳ میلیارده افغانۍ ډېرېږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۳۰۷ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې بر عکس بدلون راوستلی شي.

### ۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۴۹۴.۴۵ میلیونه افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۴۹۴.۴۵ میلیونه افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د پنځو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترځ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | خالد معراج |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | عبدالله مسعود |
| **د ایډیټ مسؤول:** | اسدالله شریفی |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | عبدالاحد صمد |
| اقتصادي څېړونکی: | اقبال صافی |
| اقتصادي څېړونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | خلیل اقبال |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | محمد جواد فریاد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د مالي سکتور شنونکې: | زرلشت معصوم |
| ژباړه: | عین الله عیان او مسعود ودان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د ریاست د فتر عمومی آمریت لوی آمر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |
| د زیاتو معلوماتو لپاره: | |
| ټلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲ |
| فکس: | ۲۰۲۱۰۰۳۰۵ (۰) ۹۳+ |
| برښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |










د ریاست د دفتر عمومی آمریت

برښنالیک: info@dab.gov.af

ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+